# مورچل

شوارلسم کال، نهمه، پرلپسې ۱۴۶مه ګڼه،
ربیع الأول ۱۴۴۲هـ ق اکتوبر ۲۰۲۰م

کابل دې د دسیسو د طرحو په ځای،
## سولې ته زمینه شي!



## بین الافغاني مذاکرات
او د سبوتاژ کولو وروستۍ چړامه

د هیواد واک د چا لاس ته لویدلی؟

## جو بایدن
و آزمون افغانستان

# مورچل

## علمي، سیاسي
## او جهادي میاشتنی خپرونه

څوارلسم کال لسمه، پرلپسې ۱۴۶مه ګڼه،
ربیع الأول ۱۴۴۲هق اکتوبر ۲۰۲۰م


## لړلیک


| ګڼه | مطلب | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | سرمقاله...................................................... | ۱ |
| ۲ | د هیواد واک د چا لاس ته لوېدلی دی؟ ............. | ۲ |
| ۳ | جوبایدن و آزمون افغانستان............................. | ٦ |
| ۴ | ارګ ترټولو ستر مفسدین او جنایتکاران سره ټول دي | ۹ |
| ۵ | د استېپنی بدلولو فرهنګ او کابل پوهنتون........... | ۱۰ |
| ۶ | جوبایډن دې ولې د ټرمپ پیروي وکړي؟ ............. | ۱۴ |
| ۷ | بین الافغاني مذکرات او د سبوتاژ کولو وروستی ډرامه... | ۱٦ |
| ۸ | د اسلامي حاکمیت هدف! نوعیت او ماهیت........... | ۱۸ |
| ۹ | ټرمپ ولې د ذلت نه ډک شکست وخوړ؟............... | ۲۱ |
| ۱۰ | د اسلامي دعوت اخلاقي بنسټونه ........................ | ۲۴ |
| ۱۱ | د امریکايي یرغل پرون او نن............................ | ۲۸ |
| ۱۲ | جنګي جنایتونه (اکتوبر) ................................ | ۳۰ |
| ۱۳ | د مورچل وړمې ........................................... | ۳۴ |
| ۱۴ | د۲۰۲۰م کال د اکتوبر میاشتې جهادي خبرونه........ | ۳٦ |



**د امتیاز خاوند**

د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کمیسیون

**مسؤل مدیر**

صلاح الدین "صارم"

**کتـــنپلاوی:**

ایـــوب صـــافی | حکـــمت
معیـن احــمد | حافـظ سعـید
حســن زوی | موسی فرهـــاد

**تخنیکي چارې**

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

**مکاتباتي ادرس**



پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحیم

# کابل دې د دسیسو د طرحو په ځای، سولې ته ژمن شي!

له کله نه چې دافغانستان اسلامي امارت له امریکا سره دافغانستان د خپلواکۍ اودهغوی داخراج سند لاسلیک کړی له هماغې ورځې تر ننه دکابل ادارې هڅه اوهاند کړی چې په هر ډول وي دسولې په راتلوکې خنډپیداکړي او جګړه دوام وموميي تر څو دوی دقدرت له ګدۍ لرې نه شي او واک له لاسه ورنه کړي، په ظاهر کې خو سوله په خوله یادوي ولې په عمل کې یې تر دې دمه هیڅ داسې حرکت نه دی کړی چې دسولې په راتلوکې دې مِمد واقع شي، د سولې مذاکرات یې هم دبندیانو له تاخیر نیولې بیا ترنورو ډېرو حیلو او بهانو وځنډول .

نه یواځې په دې برخه کې یې کوم مؤثر ګام پورته نه کړ، ولته یې دسولې په وړاندې دخنډونو په ایجاد کې نوښتونه ترسره کړل او په دې ورستیو کې یې د لېونتوب تر حده داسې هڅو ته لاس اچولی چې په هیڅ ډول دتوجیه وړ نه دي، د دې لپاره چې عام ذهنیت یې اغفال کړی وي د یولړ اجتماعي او انفرادي وژنو د دسیو په عملي کولو یې لاس پورې کړی ، دکابل پوهنتون دبې ګناه محصلینو د وژنې پلان اوس له هیچا هم پټ نه دی چې چا او دکوم غرض لپاره ترسره کړ ، ټول محصلین، استاذان، مامورین، مدني فعالان شنونکي او د محصلینو والدین په واز کومي نارې وهي چې دا حرکت د سولې داختناق لپاره یوه دولتي هڅه وه او د دې خبرې دثبوت لپاره یې خورا دلایل اونښې وړاندې کړې .

په ورته مهال یې دامریکا دانتخاباتو له بدلون سره په تمه له ارګ څخه اعلان وکړ چې د مجاهدینو په ضد د تبلیغاتي جګړې لپاره تیاری روان دی او یو منسجم پلان به په کار اچول کیږي، دارګ ویاند داخبره ډېره په شد اومد وکړه چې په امریکاکې د نوي بدلون په راتلو سره دوی ته په کار ده چې ټول په ګډه د طالبانو په ضد په دغه تبلیغاتي جګړه کې برخه واخلي . داعلان په دویمه ورځ دارګ معاون امرالله صالح

وویل : طالبان اراده لري چې مدني فعالان هدف وګرځوي او شاید ووژل شي، نو په کار ده چې لـه دولـت سره په همغږۍ د دوی له طرحو څخه ملاتړ وکړي او دطالبانو په ضد په دغـه تبلیغـاتي محـاذ کـې لـه دوی سره په ګډه برخه واخلي، کنه نو ژوند یې په خطره کې دی. ښاغلي صالح په ډېر ښکاره ډول مـدني فعـالان او لیکوال په مرګ تهدید کړل او دایې د سوله ضد ناوړه حرکتونو یوه بله هڅه وه .

دادی اوس د خپلو داعشي ملېشو له لارې غواړي چې په پل چرخي زنـدان کـې پـه زنـداني طالبـانو پراخ عملیات ترسره کړي چې دغچ اخیستنې ترڅنګ غواړي طالبـان دې تـه راوپـاروي چـې دسـولې بـین الافغاني مذاکرات لغوه کړي ، داچې دافغانستان اسلامي امارت اسـتخباراتي مؤظفینـو د کابـل اداري دغـه شوم پلان په وخت سره کشف کړ، هم مهاله یې په دې اړه نړیوال او داخلي ټول سازمانونه پـرې خـبر کـړل او هم یې په دې اړه خپل نظامي ترتیبات ترسره کړل .

دارګ د دغه سوله ضد پټو او ښکاره هڅو او پلانونو په وړاندې له یوڅو تنو شننونکو پرتـه چـې کلـه ناکله خبره کوي، نور ټول حرکتونه، رسنۍ، سیاسي څېرې، متنفذین او تنظیمونه پټه خوله دي او لـه دومـره ښکاره او څرګندودسیسو سره سره د ولس وژنې په جنایتونو سترګې پټوي، سړی نه پـوهیږي دوی دکـومې ورځې انتظار کوي او کله به بیا خپل مسؤلیت اداکوي؟

چېرته دي هغه د سولې حرکتونه! چې په ببلو پښو او پیاده مزلونو یې لارې پل کولې، رسنۍ به یې پـه سر اخیستې وې؛ نن چې د سولې په وړاندې په دومره سپین سترګۍ او مکارۍ شیطاني خنډونه او دسیسـې په کار اچول کیږي هیڅ غږ یې نه اوریدل کیږي او یو ګام هم نه پورته کوي ؟!

مونږ وایو د قدرت د بقا لپاره د دغه ډول دسیسو او شومو پلانونو په ځای که ارګ سولې ته ژمـن شي او دسولې په ضد له خنډونو څخه لاس واخلي په څو برابره یې په خیر او پـه هیـواد کـې د آرام ژونـد لپـاره ورته ډېره اسانه لار ده.





# د هیواد واک

## د چا لاس ته لویدلی؟؟

زخمي افغان

همدا اوس یو ځل بیا دا پوښتنه ډېره مطرح کیږي چې آیا د کابل د اوسني حاکم رژیم په وړاندې جهاد مشروعیت لري او که نه یې لري؟ زه کوم مفتي او لوی عالم نه یم چې دلته په دې اړه فتوی صادره کړم، اما د یوه مسلمان په حیث غواړم د کابل د اوسنی اداري په اړه خپل نظر له دیني نقطه نظره درسره شریک کړم.

د کابل اوسني رژیم ته که یو سرسري نظر وکړو او په خاص ډول د دې رژیم اصلي واکداران او د چارو متصدیان له نظره تېر کړو نو رامعلومه به شي چې دغه نظام زموږ د مسلمان ولس لپاره یوه لویه فتنه او د افغانستان د راتلونکي لپاره زهر قاتل دی، چې که خدای مکړه په دې اوسني کم او کیف دوام پیدا کړي نو دا به زموږ د مسلمان او متدین ملت لپاره د معنوي مرګ په معنی وي.

د یوه نظام او سیستم د تللو معیار دا دی چې لومړی دا وکتل شي چې د هغه نظام اصلي قیادت او د تصمیم ګیری اختیار د چا په لاس کې دی؟ همدا اوس که د کابل رژیم ته نظر وکړو درې کسان په نظر راځي چې د کابل اداري اصلي متصدیان او د چارو واکمن بلل کیږي. اشرف غني چې ځان ولسمشر ګڼي، لومړی مرستیال یې امر الله صالح او د ملي امنیت شوری مشر- ډاکټر حمد الله محب. که د دې دریو کسانو سابقه او تشخص راوپلټو نو رامعلومیږي چې دوی یو هم له دې هیواد سره دیني، فکري او ارزښتي تړاو نه لري، بلکې د ټولو دماغ له پردیو افکارو، اسلام ضد خیالونو او غربي تمایلاتو ډک دي.

اشرف غني خو هغه څوک دی چې حتی د ماشومتوب له وخته یې د افغانستان له متدین او

غیرتي چاپیریال سره اړیکه شکیدلې ده. نوموړی لا ماشوم و چې د یوه بورس له لارې امریکا ته لاړ، هلته یې یوې امریکایي کورنۍ پالنه په غاړه واخیسته او بیا د ځوانۍ تر وخته د امریکایي فرهنگ په غیږ کې په سوچه امریکایي او غیر دیني روحیه وروزل شو.

نوموړي وروسته عالي تحصیلات هم د بیروت په امریکایي پوهنتون کې ترسره کړل. د بیروت پوهنتون امریکایانو د دې لپاره جوړ کړی تر څو تر اشغال لاندې هیوادونو ته



داسې رهبران وروزي چې په نسب د هغه ولس وي خو د فکر، عقیدې او تعهد له اړخه بشپړ امریکایي وي. اشرف غني د افغانستان لپاره روزل شوی همداسې افغان امریکایي دی. د نوموړي شخصیت له دې معلومولای شئ، چې ښځه یې عیسوی (لبنانی ــ امریکایي) ده، زامن او لوڼې امریکایان دي چې حتی پښتو او فارسي ژبه هم نه شي ویلای. نوموړي د عمر اکثره برخه په امریکا کې تېره کړې او یوازې هغه وخت یې نوم افغانانو واورید چې کله په افغانستان د امریکایي یرغل مقدمات پیل شول. عبدالکریم خرم په خپل کتاب لیکلي چې اشرف غني هغه وخت په لمونځ کولو پیل وکړ کله یې چې ځان ولسمشرۍ ته کاندید کړ. نوموړی چې لمونځ کوي داسې چمونه ترې کیږي لکه ماشوم چې اول ځل په لمانځه درول شوی وي، بې ځایه غوړونو ته لاس جگول، بې ځایه سجدې یا رکوع ته تلل او دغه وارخطایي یې د دې علامه ده چې نوموړي یوازې د افغان ولس د تیر ایستلو لپاره په لمانځه پیل کړی دی او پخوا یې دغه عبادت نه کاوه.

د کابل اداري مرستیال امر الله صالح بیا تر اشرف غني هم لړلې ماضې لري. د نوموړي په باره کې د جمعیت گوند یوه مخکښ او معتبر شخص د مسکو د کانفرانس په مهال د اسلامي امارت استازو ته ویلي وو چې امرالله صالح

مسلمان نه دی ( العیاذ بالله) امرالله صالح هم کټ مټ د اشرف غني په شان امریکایانو روزلی، خو په دومره فرق چې اشرف غني په امریکایي ښوونځي او بیروت پوهنتون کې د وګړ پوهنې تخصص کړی خو امرالله صالح ته یې بیا په لانګلي کې د سي آی اې په مرکزي دفتر کې استخباراتي تعلیم ورکړی دی. امرالله صالح هغه کس و چې د یرغل په پیل کې افغانستان ته د سي آی اې د لومړني راغلي ټیم سره یې د ژباړن دنده اجراء کوله. نوموړی په دې افتخار کوي چې دامریکایانو جاسوس دی. د ده مغز هم د اسلام او دیانت پر ضد له دښمنانه افکارو ډک دی او له دیني ارزښتونو سره سخت ترینه دښمني لري.

د کابل د اداري دریمه پایه د حمد الله محب په نوم یوه نوې څېره ده. حمد الله محب پخوا ډیر پیژندوی نه و خو د اشرف غني له مشر- کیدو سره ناڅاپه راښین او دومره معتبر شو چې په کم وخت کې په امریکا کې سفیر اوورپسې د هیواد د ټولو امنیتي څواکونو مشر- ( د ملي امنیت شوری) مسؤل وټاکل شو. حمد الله محب هم د اشرف غني غونډې امریکایانو روزلی او حتی له امریکایانو سره خپلوي او دوستي هم لري. د نوموړي ښځه لائل آدامز امریکایي ده. لائل آدامز د امریکا نیو یارک ته نږدې په Asheville ښار کې زیږېدلې وه. د باستېن له پوهنتون څخه د مرکزي او جنوب ختیځ آسیا په چارو کې ماسټري لري او داسې معلومیږي چې د حمد الله محب غونډې یې ښځه هم په افغانستان کې د یوه مهم کردار لپاره روزل شوې وې.

دغه درې اشخاص چې د کابل اداري د ټولو سیاسي، نظامي او نورو اختیاراتو واګې ورسره دي، د ټولو ما به ا لاشتراک دا دی چې ټول غیر دیني افکار لري. په سیکولرزم او غربي فلسفه ټینګ باور لري او ټولو تعهد کړی چې غربي فرهنګ او افکار به په دې هیواد کې پیاده کوي.

که د دې خلکو واکمني دوام پیدا کوي او نو معنی یې دا ده چې زموږ راتلونکی نسل باید هر یو د همدې کسانو په شان فکر او کردار ولري او دا زموږ د ولس لپاره د مطلق معنوي سقوط او هلاکت په معنی ده. ځکه زموږ د ولس تر ټولو ګرانبها سرمایه زموږ دیني معتقدات او زموږ هغه دیني تشخص دی چې د صدر اسلام له وخته په میراث راپاتې دی او د پیړیو په اوږدو کې زموږ نیکونو په ډیرو قربانیو را ساتلی دی. دغه تشخص له موږ سره یو امانت دی چې باید راتلونکو نسلونوته یې انتقال کړو تر څو هغوی له ابدي تباهۍ او ګمراهۍ څخه محفوظ پاته شي. پر کابل اوسني واکمن هڅه کوي چې له موږ څخه دغه تشخص واخلي خو موږ باید په هیڅ صورت اجازه ورنکړو او په خپل ځاني، مالي او لساني جهاد سره د خپل دین او اسلامي افکارو ساتنه وکړو.



# جو بایدن و آزمون افغانستان

حبیبی سمنگانی

جو بایدن رکورد ترامپ را شکست و ۴۶مین رئیس جمهور امریکا شد. بلی ترامپ به سن ۷۰ سالگی به‌حیث مسن‌ترین رئیس جمهور امریکا وارد کاخ سفید شده بود. اما اکنون جو بایدن ۷۸ساله با پیروزی در ۵۹مین انتخابات ریاست جمهوری، جایگزین وی شده‌است.

مهم برای افغان‌ها اینست که جو بایدن در قبال افغانستان و به‌خصوص پایان دادن جنگ تقریبا ۲۰ ساله امریکا درین کشور، از تجارب هم‌حزب‌اش اوباما و رقیب‌اش ترامپ و بلکه از آموخته‌های خود چه‌طور استفاده می‌کند. زیرا گفته می‌شود که او مخالف همیشگی حضور سربازان امریکایی در افغانستان است. او به ریچارد هالبروک، نماینده خاص امریکا در افغانستان و پاکستان در سال ۲۰۱۰ با فریاد گفته بود که «من جان پسرم را در افغانستان برای حقوق زنان به خطر نمی‌اندازم».

قدر مشترک بین اوباما و ترامپ این بود که هر دو در ابتدا کوشش کردند با کاربرد گزینه نظامی، در افغانستان به پیروزی برسند. اگر اوباما با اعزام ۳۳ هزار عساکر اضافی تلاش کرد وضعیت جنگ در افغانستان را دگرگون سازد، ترامپ نیز با اعلام استراتژی جنگی در اگست ۲۰۱۷ بخت خود را برای پیروزی در جنگ افغانستان به آزمون گرفت. اما انجام تلخ هر دو تجربه، از هم چندان تفاوتی نداشتند. هر دو رئیس جمهور دموکرات و جمهوری‌خواه، در حقیقت شکار دام جنرالان جنگ‌خواه پنتاگون شدند.

البته، فرق این بود که اوباما با اینکه هشت سال را در کاخ سفید سپری کرد و برای خروج نیروهای خود ضرب‌الاجل هم تعیین نمود، اما نتوانست راه حل واقعی برای پایان طولانی‌ترین جنگ تاریخ امریکا پیدا کند. او در حالی کاخ سفید را ترک می‌گفت که بر شکست خود در افغانستان برملا اعتراف داشت. بالمقابل ترامپ در دوره چهار ساله ریاست‌جمهوری‌اش توانست با موقف غیر متردد خود، راهی نسبتا آبرومندانه برای بیرون‌رفت از افغانستان پیدا کند.



هنوز روشن نیست که جو بایدن از فرصت کنونی چگونه استفاده می‌کند و یا چه شیوه‌ی را در قبال کشوری انتخاب می‌کند که به گفته وی درست ناشدنی و سزاوار چندپارچگی است.

بایدن ۷۸ساله، برگشتاندن سربازان امریکایی از افغانستان را از اهداف سیاست خارجی‌اش خوانده بود. با توجه به تجارب ناکام گذاشته، روشن است که رسیدن به این هدف از راه دوام و تشدید جنگ امکان‌پذیر نیست. از سر گیری جنگ منجر به از دست دادن حیثیت باقی‌مانده امریکا خواهد شد. مواقف گذشته بایدن در قبال افغانستان هم نشان می دهد که وی بر پیروزی نظامی در افغانستان باورمند نیست. چنانچه در گزارش بی‌بی‌سی تحت عنوان «جو بایدن از اظهارات خبرساز تا نقشه ای برای افغانستان» آمده است: «بایدن معتقد است که گیر افتادن در جنگ‌های غیرقابل پیروزی، تنها توانایی ما را برای هدایت در موضوعات دیگری که توجه ما را می‌طلبد، تخریب می‌کند و از بازسازی ابزارهای دیگر قدرت آمریکا باز می‌دارد».

باور عمومی در باره بایدن اینست که وی چون مدت ۳۶ سال - از ۱۹۷۳ تا ۲۰۰۹ - به‌حیث سناتور و رئیس کمیته‌های متعدد مجلس سنا، و سپس ۸ سال دیگر - از ۲۰۰۹ تا ۲۰۱۷ - به عنوان معاون رئیس جمهور در سیاست معاصر امریکا نقش بازی کرده‌است، از پرزه‌های مهم سیاست آن کشور است و بر خلاف ترامپ، با سیاست‌های پنهانی و حلقات قدرت‌مند امریکا بیش‌تر هماهنگی و سازگاری دارد.

اما شاید هنوز پیش از وقت است که در مورد چگونگی سیاست آینده وی پیش‌بینی کرد. البته، این یقینا قابل پیش‌بینی است که حلقات مختلف جنگ‌طلب، با امید تازه و دام‌های فریبنده‌ای او را به‌سوی مسیر دل‌خواه و مغرضانه‌شان سوق دهند و نقشه‌ها و برنامه‌های مختلف تسخیر جهان و منطقه را روی میز وی بگذارند.

جنرالان امریکایی هنوز از افغانستان دست‌بردار نشده‌اند. آن‌ها نه تنها در صحنه عمل با بهانه‌گیری‌های مختلف در راستای خروج کامل از افغانستان مشکلات ایجاد کرده‌اند، بلکه نگرانی‌های شان را رسما ابراز هم داشته‌اند. چنانچه هرگاه ترامپ یکروز پیش از انتخابات ریاست جمهوری بار دیگر تاکید کرد که نیروهایش را تا کریسمس (۲۵ دسمبر) به خانه‌های‌شان بر می‌گرداند، با انکار فوری فرمانده ارتش مواجه شد.

دونالد ترامپ با اینکه از ابتدا مخالف جنگ افغانستان و از ناقدان سرسخت جورج بوش درین مورد بود، اما تحلیل واقع‌بینانه اینست که حد اقل دو سال وی را همین لابی‌ها و جنرالان جنگ‌جو به بهانه‌های این و آن به هدر دادند، اگر او در اگست ۲۰۱۷ به‌جای اعلان استراتژی ناکام جنگی، وارد میز مذاکرات مستقیم با طالبان

می‌شد، شاید بسیار پیش می‌توانست به حل نهایی جنگ بی‌سود افغانستان می‌رسید و ازان به نحوه خوب‌تر در کارزار انتخاباتی استفاده می‌کرد. در حالی‌که او در سیاست خارجی بدون پیمان پایان اشغال افغانستان، دستاورد عمده دیگری هم نداشت.

نکته دیگری حائز اهمیت اینست که افغانستان در سیاست خارجی دولت بایدن چه جایگاهی خواهد داشت. چون در دو مناظره بین ترامپ و بایدن از افغانستان به استثنا از یکی دو مورد هیچ یادی نشده‌است. اما این شاید بار اول نیست. زیرا در گذشته‌ها نیز افغانستان، با اینکه بیش از یک تریلیون دالر امریکایی‌ها در آنجا برباد رفته‌است و هزاران عساکر امریکایی کشته و زخمی شده‌اند، از موضوعات اصلی و مهم بحث‌های انتخاباتی امریکا نبوده‌است.

اگرچه تیم بایدن در مورد سیاست خارجی شان حتی به نزدیک ترین متحدین امریکا بیش‌تر توضیح نداده‌اند، اما شعار تیم بایدن «امریکا بر می‌گردد» چیزی‌ست که متحدین دیرینه امریکا به‌خصوص اروپا و کانادا و همچنان سازمان ناتو را امیدواری تازه‌ای می‌بخشد. این متحدان امریکایی از روش تحقیرآمیز ترامپ به شدت در اضطراب بودند و حتی گفته می‌شد اگر ترامپ دوباره برنده شود، این‌ها ناچار بر پالیسی‌های خارجی و امنیتی خود بازنگری کنند و از اتکا بر امریکا به‌سوی خودکفایی بروند.

در چهار سال اخیر، روابط ترامپ و سازمان ناتو که متحد بزرگ و شریک اصلی امریکا در اشغال افغانستان است، در عموم و به‌خصوص در مورد مصارف هنگفت مالی این سازمان پر تنش بوده‌است. ترامپ در اولین حضور اش در نشست سران ناتو در ۲۰۱۷، خبر داد که اعضای ناتو به تعهدات مالی خود عمل نموده بودجه دفاعی خود را افزایش دهند. او هشدار داد که نمی‌خواهد امریکا تنها تامین‌کننده هزینه مالی ناتو باشد.

در باب افغانستان، اگرچه ینس استولتنبرگ، منشی عمومی ناتو در نشست مشترک مجلس سنا و مجلس کنگره امریکا تصریح کرد که قصد نداریم برای همیشه در افغانستان باقی بمانیم و همچنان ما همراه با امریکا وارد افغانستان شدیم و در هماهنگی با این کشور از افغانستان خارج خواهیم شد، اما دیده می‌شود که ناتو حامی خروج زودهنگام از افغانستان نیست.

می‌توان گفت که بایدن بر علاوه از جنرالان امریکایی، باید قناعت ناتو را هم برای پایان دادن اشغال افغانستان فراهم کند. چنانچه مجله فارین پالیسی به نقل از دیپلمات‌های اروپایی گزارش داده‌است که: برای کشورهای متحد آمریکا که نیروهای‌شان را در کنار سربازان آمریکایی به افغانستان و خاورمیانه اعزام کرده، مهم است بدانند که اداره بایدن چه موضعی درباره این نیروها دارد.

اگر جو بایدن واقعا خواهان پایان دادن آبرومندانه و بر وقت چپتر افغانستان است، باید از پیشرفت‌های که در دو سال گذشته در پروسه صلح و مذاکرات شده‌است، استفاده سالم بکند و نگذارد که دستاوردهای این باب قربانی سیاست‌های مغرضانه و جنگ‌طلبانه شود.



# ارګ کې ترټولو لوی مفسدین

## او جنایتکاران راټول دي !!

خبير احمد م

د کابل رژیم مشر په دې وروستیو کې له فساد سره د مبارزې په نوم کمېسیون ایجاد کړی دی – هغه کمېسیون چې د رژیم ماهیت او وضعیت ته په کتلوسره به له شک پرته همدغه کمیسون دفساد او درغلیو لویه ځاله او بانډوي .

له فساد سره د مبارزې لپاره د کمېسیون ایجاد د هغو کوښښونو د لړۍ برخه ده چې کابل اداره یې په مټ په یوه راتلونکې کانفرنس کې د نړیوالو په سترګو کې خاورې شیندل او وروسته له هغوی مالي مرسته ترلاسه کول غواړي.

له تیرو دولسیزو راهیسي دارګ سپین سترګو غلو همیشه دغه رنګ نمایشي۔ګامونه پورته کړي چې کله دافغانستان په باب دمرستو او بسپنو کومه نړیواله غونډه او اجلاس جوړشوی !

داځل هم دجنوا مرستندویه ناسته ممکن جوړه شي نو دارګ داړه ماران دخپل عادت له مخې هڅه کوي نړیوالو ته ځان د فساد پر ضد مبارزه کوونکی وښیي، اما د رژیم ملاتړي پخپله هم پوهیږي چې دا اداره نه داچې په فساد کې غرقه ده داصلاح او سمون احتمال یې هم نه شته، ځکه له سره ترنوکه مفسدین او مجرمین سره یو ځای شوي

تېره اوونۍ د سیګار په نوم د امریکا د څار یوې ادارې راپور خپور کړ چې په کابل اداره کې فساد لا هم د پخوا په څېر حاکم دی او د دې شومې پدیدې د له منځه وړلو لپاره شوې وعدې یوازې د کاغذ پرمخ پاتې دي.

غربیان پوهیږي چې د دوی لخوا دې ادارې ته، چې د واکمنۍ له امله یې اوس افغانستان د منځنۍ اسیا تر ټولو فاسد هېواد بلل کیږي، ورکول کېدونکې مرستې په خپل ځای نه لګیږي او بېرته به د فساد ښکار کیږي. له همدې امله یې وار له مخه لا اعلان کړی چې ښایي سږ کال د کابل رژیم د امید برخلاف کمې مرستې ورسره وکړي – هغه هم په سختو شرایطو.

اوس ټولې نړۍ ته څرګنده شوې چې د کابل رژیم د شعار او عمل ترمنځ د ځمکې او اسمان فرق دی. شعارونه یې داسې دي لکه د سیمې تر ټولو پاک نظام چې وي، خو په حقیقت کې بیا د منځنۍ اسیا تر ټولو فاسد نظام بلل کیږي. یو دېوال په یو میلیون ډالره جوړول او له کورونا سره د مبارزې لپاره د قرض او ترلاسه شویو سلګونه میلیونه ډالرو درک ورکېدل د مشت نمونه خروار په ډول په دې وروستیو کې د کابل ادارې د فساد له رابرسېره شویو نمونو د یادونې وړ دي.

د خپلو غلامانو په حقیقت د پوهې له امله به ښایي د رژیم بهرني ملاتړي دې ادارې ته هغومره لاس وراوږد نه کړي څومره چې یې دا تېل شوې او فاسدې څېرې هیله لري، خو دا چې د رژیم د ملاتړو ګټې د همدې فاسدترین نظام په بقا کې نغښتې دي نو قُوت لایموت به یې حق وبولي.




سعد کېوازی

# د استېپنی بدلولو فرهنګ
# او کابل پوهنتون

د طالبانو د نظام خوږې شېبې مخ پر خزان او د اشغال لومړۍ ورځې وې، أمریکایانو یو جاسوس د پراشوټ پر مټ دښتې ته را ښکته کړی و، یو ګوډاګی لا له مخکې ګمارل شوی و چې په خپل سور رنګه ډاټسن کې یې تاکلي ځای ته نقل کړي او دا پېښه یو شپونکي څارلې او خبر یې کلي ته راوړی و، د شهید ملا عبیدالله عابد تقبله الله د کنډك طالبان پسي لاړل له دښتې یې پراشوټ را وړ او د موټروان ځرك یې هم و لګاوه چې د عسکر په نوم د مرجانې کلي اوسېدونکی دی، خو چې پل وکتل شو؛ د عسکر د موټر پل نه و، نو طالبانو هم د خپل عادت، له پېښو سره د سرسری چلند او نېك ګمان له مخې هغه ونه نیوه چې په دې سره پراشوټ شوی جاسوس له هویت سره تری تم شو.

عسکر چې د طالبانو له سقوط څخه مطمئن شو ویې منل: د رضاخان په نوم د سیمې یو تن چې په لندن کې اوسېده او په خبریالۍ کې یې هم ګوتې وهلې د جاسوسۍ لپاره پراشوټ شوی و، ده ته یې د نقل دنده ورکړل شوې وه او د پل ورکولو لپاره یې د موټر استېپنی بدلې کړې او طالبان یې پرې تېر ایستلي.

د امریکا له راتلو سره په افغانستان کې زښته زیاتو دا ډول پېښو په لومړي ځل سر را ښکاره او د اشغال له دوام سره یې پراختیا موندله، دا ځکه چې د امریکایانو اشغال او دوام یې تر ډېره پر دروغي زهرجنو تبلیغاتو ولاړ و، د ډېرو ځمکنیو واقعیتونو راغلي او تللي پلونه یې پرې ورك کړل او د خواشینې ځای لا دا چې افغانان هم ورسره نابلد او طالبانو هم نه د دښمن تبلیغاتو او نه یې هم تري د ولس اغېزمن کېدو ته څه پاملرنه درلوده.

خپله کرزی د امریکایي نظام یوه استېپنی وه، هر چاته مالوم و/دی چې د امریکایانو پر ټانګونو سپور ارګ ته ننوت، خو چې امریکایان اړ شول له افغانانو د یاد نظام د راتلو پل ورك او همدغه نظام ته د خلکو د منتخب نظام په رنګ کې تر دغه په بد شکل دوام ور کړي، نو استېپنی یې ور بدله کړه او پر اشرفغني یې روان کړ. مکارو اشغالګرو هغه د نړۍ دوهم مفکر تلقي کاوه، پر افغانانو یې د هغه د تپلو هره بیه پرېکوله او یو کم شمېر هغه یې تېر هم ایستل چې رایې و کاروي او له دې لارې یې د ولس پر رایو راغلو مشرانو په رنګ کې خپل ګوډاګیان او ډیموکراسي نظام پر افغانانو وتپل.

له دې سره سم لکه څرنګه چې د اشغالګرو پلان و په یو بد شکل او بوږنوونکو پېښو نوی نظام پیل شو، داسې وحشتونو، جنایاتو، پېښو او نادودو سر راپورته کړ چې په هیڅ مذهب، قانون، دستور، هېواد، ستراتېژي او په ټوله کې یې نه د هیواد او ولس په تاریخ کې شتون درلود، نه ساری او نه هم تمه (یواځې ځیني بېلګې یې د نړۍ د څو پېړیو په تاریخ کې ښایي موجودې وې) او پل یې هم د امریکا سفارت، د ناټو غوځ ملاتړ ماموریت او ارګ ته رسېده، له همدې أمله اشغالګرو، تپلو ګوډاګیانو او نظام یې وپتېیله چې استېپنی بدله او خپل پل پرې ورك کړي.

داخل اشغالګرو د داعش پدېده هېواد ته غلې را وارده کړه او د طالبانو له لیکو هم ورسره ځیني مغرض او

ناأهله افراد يوځای شول، اشغالگرو ډېر وحشتونه او جنايتونه پر داعشي استېږنې روان کړل، د هغوی له لارې او له هغو سره په پټه او ښکاره مستقيمه مرسته او تمويل يې يادې نادودې ترسره کولې چې له أمله يې د هېواد په ختيځ، لوېديځ، جنوب لوېديځ، شمال، پلازمېنه کابل او پکتيا کې سلګونه بلا دردوونکې او بوږنوونکې پېښې رامنځته شوې.

خو طالبانو د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې پرېکنده عمليات پرې ترسره کړل چې زياتر يې ووژل او پاتې اشغالګرو او مزدورو چارواکو په مستقيمه لاسوهنه د شوبلو او څرخکو له لارې ترې خلاص کړل چې تر اوسه لا په کابل او ځيني نورو ولايتونو کې د استخباراتي ماموريت او ملي امنيت په چوکاټ کې خونړې بريدونه کوي او پړه يې بيا د داعش پر نوم پر غاړه اخلي.

بهر حال ! دې پېښو دوام وکړ او پل يې د پورتنيو مراجعو ترڅنګ سي ای اې استخباراتي شبکې او بليک واټر کمپنۍ پورې ورسېده، ورسره د پل ورکولو لپاره د استېږنې بدلولو کلتور دومره عام شو چې په هره وړه او لويه، منفي او مثبته پېښه کې ترې کار اخيستل کېده، له أمله يې د دښمن دغه چاره رسوا او له کاره ولوېده او هغه دېته اړ شو چې ترڅنګ يې ښکاره بې شرمۍ او سپين سترګۍ ته هم ملا وتړي.

په دې لړ کې پر طالبانو د نظامي، مذهبي، مدني او... فشارونو په نوم داسې څه نشول پاتې چې هغوی په ښکاره تر سره نکړل، پر ولسي وګړو (سپين ږېرو، مېرمنو، ماشومانو، ځوانانو، بېلابېلو کدرونو او قشرونو) کورونو، کليو، باغونو، کروندو، وړو او لويو موټرانو، مسجدونو، مدرسو، خانقاو، تعليمي او صحي مرکزونو، بازارونو، عام المنفعه پروژو، غونډو، ودونو، جنازو، فاتحو او...ړندې بمبارۍ، شپني چاپې، هر ډول توپ-هاوان-راکيټي-وړو وسلو بريدونه، وړې او لويې چاودنې، اخلاقي او کلتوري داغنې، د ولس عفتونو-ملي او شخصي شتمنيو لوټنې يې له طالبانو سره د رواني کړې سولې پروسې يوه تر ټولو مهمه او ترې نه منفک کېدونکې برخه وګرځول.

دا چې د ځمکنيو واقعيتونو په توګه نه طالبانو زيان ليده او نه هم پر خپلو زيانونو دومره خواشيني کېدل لکه د ولس او هېواد پر زيان، نه د اشغالګرو او ګوډاګيانو يې پر طالبانو وس رسېده او نه هم دغه واقعيتونه د پټېدو و، اشغالګر اړ شول مزدور سپين سترګي هم ولري او له جنايت وروسته په خورا بېشرمۍ يې هغه توجېه کړي. که هرڅو به يې ماشومان، سپينږيري، مېرمنې يا هم مشهور ډاکټران او نور کدرونه شهيدانول، زيانمنول، لوټل، ګواښل او ورسره د پېښو عيني شاهدانو، انځورونو، ټولو ځمکنيو واقعيتونو او اسنادو به يې رسنۍ پر سر اخيستې وې، خو سپين سترګو لاسپوڅو او کرايي رسنيزو نامردو به يې په مقابل کې د طالبانو، د هغوی د مرکزونو، نقليه وسائطو او شتون پر نوم توجېه کول او د واقعيتونو مخالفت او تحريف ته به اړم ول.

وروسته د سولې له پروسې د ګوډاکيانو انزوا او د هغې سولې چې د ګټلو په نوم يې دا ټول وحشتونه او جنايتونه ترسره شول د اشغالګرو بايلنې د دې پېښو يوه بله څپه را ولاړه کړه چې دا ځل د سولې هڅو د روحيې وژل او د دې پروسې سبوتاژ په پلان کې و او د ديني عالمانو، لوړو کدرونو، د دولت منتقدينو، سوله خوښو/سولې فعالانو او... په مرموزو وژنو يې پيل کړ.

لويي او وړې مرموزي چاودنې او هدفي بريدونه، داعش ته منسوب د ملي أمنيت او استخباراتي کړيو په ابتکار خونړۍ پېښې (چې دواړه يې په لومړيو کې پر طالبانو تاوانول)، له بين الأفغاني مذاکراتو مخکې د باور جوړونې لپاره د ۶۰۰۰دوه اړخيزو بنديانو خوشي کېدو (باور جوړونې) مخنيوی، پر طالبانو د ډول ډول تورونو پورې کول، له بېلابېلو لارو د هغوی د بدنامۍ هڅې او حساسيت يې را پارول، په دولتي کچه پراخې او بې سابقې نانذرۍ، د سياسي او اداري فسادونو ترڅنګ د اخلاقي فساد نوې څپې او ورته کار، د ولسي-خلکو شخصي-ملکيتونو او عفتونو لوټل، د خپلمنځي ناستې لپاره د افغان جهتونو د پلاوي په تشکيل کې ځنډونه او خنډونه او... د ياد پلان برخه ول.

که څه هم دا هرڅه اشغالګر امريکايان کابل اداري ته تلقينوي، خو بلواکه ګوډاګيان يې خپل واك او ځواك ښيي او پکې يې تر توان او غوښتنې لوړې هڅې کړې، بيا هم چې د اشغالګرو له لورې پرې مخالف غبر وشي په عمل کې همغه کېږي، په کراتو د کابل اداري له خپلو سرو کرښو تېربدل، د اشغالګرو چارواکو پر يو غبر د بنديانو د خوشي

کولو لړۍ بشپړول او له هرځومره نتېې وهلو وروسته هم بېن الأفغاني مذاکراتو ته زړه ښه کول يې د يادونې وړ دي.

بالآخر د اشغالګرو او لاسپوڅو يې دا ټولي هڅې له ناکامۍ سره مخ او د قطر په دوحه کې د بېن الأفغاني مذاکرې د پيل لومړنۍ ناسته ترسره شوه چې پکې د ملا برادر آخند سربېره د قطر هيواد بهرنيو چارو وزير او د قطر حکومت لومړي وزير مرستيال سلطان بن سعيد المريخي، د امريکا بهرنيو چارو وزير پمپيو، د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي خليزاد او ډاکټر عبدالله برخه اخيستې وه.

خو له کابل څخه داسې خلك ورلېږل شوي چې پر هيڅ قدرت نلري او نه له طالبانو سره د مذاکرې صلاحيت لري، له أمله يې په قطر کې له کابو مياشتې تېرولو سربېره نه کوم پرمختګ وشو، نه تر اوسه ورغلي کسان طالبانو په رسمي ډول منلي، نه د افغاني جهتونو په توګه د افغانانو استازولي کولای شي او نه هم ډېر نور مخته پراته پړاونه وهل شوي، ورسره پر يو مهال د ارګ له استقامته د مذاکرې د تخريب هڅې هم رواني وې/دي، همدا لامل به و چې لومړی ارګ له قطر څخه د خپل پلاوي د راستنولو ګواښ وکړ او بيا د هغه څلور بارز غړي بېرته کابل ته را ستانه هم شول چې لامل يې تر اوسه لا نه دی څرګند.

د بين الأفغاني مذاکرې له پيل سره سم ارګ يو شمېر امنيه قوماندانان بدل کړل او د دوی پر اصطلاح د افغانستان دوهم کس !! امرالله صالح د کابل امنيه قوماندان وټاکل شو؟؟، په لومړيو کې خيال دا کېده چې په کابل کې نا امنيو او پر امنيتي بنسټونو د ارګ بې باورۍ به هغه دېته مجبور کړی وي، خو وروستيو حالاتو وښوده چې دا د سرچپه منظم پلان له مخې ترسره شوي، نو ځکه د کابل امنيه قوماندانی ته د صالح ننوتلو نا امنۍ خو کنترول نکړې، بلکې د ياد شوم پلان له مخې د کابل پوهنتون بوږنوونکې پېښه چې په تېرو دوه لسيزو کې يې بېلګه نه درلوده هم رامنځته شوه او پکې لسګونه مظلوم او بې ګناه محصلين په خورا وحشت او ظلم مړه او ټپيان کړل شول.

دا پېښه له دې أمله هم دردوونکې وه چې ياد پوهنتون ښايي په خپل ټول تاريخ او د هغه په هرځومره سختو ورځو کې داسې ورځ نه وه ليدلې، دوه لسيزي ارګ خپله د ياد پوهنتون امنيت نيسي، د هغه شاوخوا او ټولو دروازو کې يې امنيتي کسان ګمارلي او په عام نظر هيڅ د داسې پېښې تمه نه کېده او نه يې امکان و، خو ارګ او قوماندانی يې بريدګر تر خپلو ګمارلو امنيتي ساتونکو ور تېر کړل او محصلين يې په هغه ارامه فضا کې تر بريد لاندې ونيول چې د څو لسيزو له سختو شرائطو روغ ورته را وتلي او نوره هم د بشپړ ښه کېدو پر لور وه.

دا چې اصلاً د عصري او ديني زدکړو ترمنځ توپير او واټن نشته (بلکې دغه توپير يواځې پر ملتونو اړه لري)، نو وايو به چې محصلين+ديني طالبان زموږ د افغاني او په ټوله کې د مسلمانې ټولنې د ملا تير او راتلونکې سرمايه ده؛ هېواد او ټولنه مو پرې تر بل هرڅه زياته خوارېږي، د هغوی نه شتون زموږ تاريخ او راتلونکی بشپړ ګواښي او لکه چې ټول شاهدان يو ياد محصلين تش لاسي او بې اسرې و؛ په مدرسه=پوهنتون کې د زدکړيالي طبقه (که په هر ملت پوري اړه ولري) ټوله همداسې مظلومه، نازکه او د بشپړ ترحم وړ وي.

خو د ارګ بې رحمه قوماندانی او ملاتړو يې چې په تېر کې هم دا ډول ګڼ محصلين، د مدرسو واړه طالب العلمان، لوږ کدرونه، تش لاسي وګړي، مېرمنې، تنکي ماشومان او حتی مړه جسدونه په نښه کړي او له منځه وړي؛ د کابل قوماندانی ته د صالح پر ننه ايستلو يې دغه بهير د کابل تر پوهنتونه را ورساوه، پر بې ګناه او د جګړې له ترخو څخه ناخبره محصلينو يې هم هيڅ رحم ونکړ او يواځې د دې لپاره يې ښه بې دربغه ووژل چې پرې په بېن الأفغاني مذاکراتو کې له خپلې ټګې برګې د خلکو پام واړوي، طالبان بدنام کړي، خپله نړيواله اسره پياوړې کړي او تر يو وخته نور هم په واك کې پاتې شي.

اوس چې د استېنی بدلولو لوبه زړه شوې؛ ارګ د دې خونړي بريد په اړه هغه فرهنګ هم له پامه وغورځاوه او په وچه سپين سترګۍ او بې شرمۍ يې له لومړي ډز سره د هغه پړه پر طالبانو ور واچوله، چې طالبانو رد کړ د ارګ قوماندانی بيا پر وغورځوله، چې د ارګ د جاسوسي ادارې اړوند ډلي (داعش) پړه ومنله، قوماندان بيا پر طالبانو ور وغورځوله، هغوی بيا پر مستند ډول رده کړه، خو قوماندانی بيا پر ور واړوله، د پوهنتون استادانو، محصلينو او عيني

شاهدانو يې په اړه مستند شواهد وړاندې کړل او پړه يې د طالبانو لـه غـاړې واوښـته، بيـاهم يـادې قوماندانـۍ پـر ور واچوله، د پېښې د ځـای طبيعي شـواهدو طالبـانو تـه بـرأت ورکړ، قوماندانۍ بياهم پړه پـه طالبـانو پسې-وړلـه او پـه دې ډول چې دوی تـر مـازديگره د بريـد واقعي انځـور د پټولـو هڅه کوله؛ هڅې يې سرچپه شوې او د بريد په جريان کې لا د هغه د حقيقت په اړه کره ثبوتونه رسنيز شول.

پر دې علاوه يو تر ټولو غوره ثبـوت دا چې پـه تېـرو دوه لسيزو کې د طالبانو نظامي اهـداف، د بريـد ځـای تـه د وړلو ساز وسامان، د بريـدونو پېچلتيـا او د هـدف کـره والـی او... اوس هرچاتـه مـالوم شـوي چـې د څېړونکـو پـه انـد دپوهنتـون بريـد، د قومانـدانۍ لـه لـوري ادعـاء او وړانـدې کېدونکي اسناد يې ورسره په خورا لـوړ منفـي تـوپير کـې او حتی له ټولو اړخونو د طالبانو د بريد سرچپه و او لـه همـدې وجې يې ډېر زر د پټو اړخونو رابرسېره کولـو هڅـې پيـل او هرڅه په لير وخت کې بشپړ روښانه شول.

په هر رنگ ! دلته که څه هم استېنۍ بدلـه او پـل ورك نشو، خو د پيښې د واقعيت په اړه د عام فکر او پام لـه خپـل مسيره د قوماندانۍ هدف ته اړولو کې تر ټولو مضر کردار د کرايي خبريالانو/رسنيو او په دوهم قدم کې د قوماندانۍ وه، ياني رسنيو پکې د استېنۍ بدلولو ځای نيـولی او قومانـداني يې هم شـاته پرېښـودلې وه، لـه نېکـه مرغـه دواړه د پيښـې د څرنگوالي په اړه له خپرو شويو قوي اسـنادو او ثبوتونـو سره په تقابل کې و، د قوي شواهدو پر وړانـدې يـې لـه هـر ډول ثبوت او اسناد پرته په وچه سپين سـترگۍ پـړه پـر طالبـانو ور غورځوله او په دې ډول يـې تـرسره کـړی بريـد همغسې-پـر ځان تاوان هم کړ.

اوس نو يواځې د ارگ هغه موخـه نامالومـه وه چې د ترلاسه کولـو لپـاره يـې هغـه دغـه بريـد پـلان او تطبيـق کـړ، قوماندانۍ له پيښې وروسته د پوهنتون شاوخوا پر عسکرو او پوليسو کلابنـده کـړه، هـدف د بريـد څرنگـوالي، زيـانونو او موخې پټول، د پيښې له استقامته د خلکو پام بل خوا اړول او بيا د شېبې له تيارې څخه په استفاده د سبا لپاره ترې تبليغـاتي گټه پورته کول و، سهار په داسې حال کې چې لاهـم سـيمه کلکـه کلابنـده وه د پوهنتـون شـاوخوا لگېـدلې پنجـرې د مذاکراتو او سولې ضد بينرونو پوښلې وې، د حيرانتيا خبره دا چې يو خو په ډېره بېړه !! جوړ شـوي او بـل د کلابنـدۍ پـه حـال کـې ځـړول شـوي او پـه همـدې کلابنـدۍ کـې يـې ځړونکي هم نامـالوم و. دې کړنـې د پيښـې پـل لـه هـر ډول زحمت پرته مستقيم د ارگ قوماندانۍ ته ورساوه او لازياتـه يې پسې رسوا کړه، د بريد او له هغه وروسـته رامنځتـه شـويو پوښتنو، غوښتنو، څېړنو او اندېښنو په اړه ارزونـې او اټکلونـه ترسره شول او نه يواځې دا چې وحشي قوماندانۍ د تبليغاتي استفادې موخې ته ونه رسېده، بلکې دا هم په اثبات ورسـېده چې هغـه څـه ډول او د څـومره وړو، بـې ارزښـته او خيـالي موخو لپاره (چې د بايللو چانس يـې تـر گټلـو قـوي وي) د هېواد او ولس څومره ستري هستی او لوړ ارمانونـه لـه منځـه وړي؟ او څومره يې وينه ورته پرېمانه او ارزانه ده؟.

دا چې د کابل پوهنتون استادان او محصلين د خپلې ارزونې او تحليل له لارې هم د داسې پېښو ماهيت پېژندلای شي، اوس چې تر بريد لانـدې نيـول شـوي د ټـولې صـحنې عيني شاهدان هم دوی دي او ورته گوته په ماشه بريدگر يې هم ليدلي او پېژندلي، نو ارگ او قوماندانۍ لومړی پوهنتـون د بريد هدف گرځولو کې تېروتلي ښيي چې لـه أملـه يـې د طالبانو د بدنامۍ، مذاکراتو د تخريب، سولې د مخنيوي او دا ډول نورو موخو لپاره ترسره کړی دغه بريد بشپړ سرچپه شو.

او بيا يې د ، قوي اسنادو په مقابل کې گډوډو دروغـو او پـه وچ زور پـر طالبـانو ورتپلـو سره پـر لـوی لاس خپلـه تېروتنه او د پايلې په توگه يې دغه بريد پر ځان تاوان کړ، پـه ډېر لير وخت کې يې د خپـل دغـه وحشـت کـره ثبوتونـه او داسې شواهد رسنيو ته پر لاس ورکړل چې په هيڅ توجېه نـه ردېږي او نه هم د قومانـداني خپـل پـل ورکـولای شي، خـو لاهم اړم ده چې د بې شرمۍ او سپين سترگۍ پر سريښو يـې پړه پـر طالبـانو ونښـلوي او دا يـواځې ناکامـه تبليغـاتي هڅـه کېدای شي او بس، همدا لامل بـه وي چې د دې پيښـې پـه تعقيب د ارگ ويانـد د تبليغاتي جگړې او ورسره په يو مهـال يې قومانداني بيا د ورته نورو بريدونو پـه اړه خـبر ور کـوي، خو دوی ته دې وويل شي چې طالبانو له صليبي امپراطورۍ هم نه يواځې وسلواله جگړه، بلکې تبليغاتي او سـياسي هغـه يې هـم گټلـې او ستاسـو هـم د تبلغـاتي اسـتفادې لپـاره پـر پوهنتون کړی بريد او لـه هغـه مخکـې مـو لا تيـار او چـاپ کړي تبليغاتي بېنرونه بسنه کوي.....پای



# جوبایډن دې ولې د ټرمپ پیروي وکړي؟

■ ارمان

دامریکا ددفا ع سرپرست وزیر « کرسټو فرملر » ویلي: امریکا دافغانستان په ګډون په ټولو بهرنیو هیوادونو کې دامریکا میشت پوځیان ویستل غواړي.

دروان کال په پیل کې دټرمپ حکومت له افغانستانه دخپلو عسکرو ویستلو په اړه دافغانستان اسلامي امارت سره دهوکړه لیک په امضا کولو سره نړیوالوته داپیغام ورکړ چې امریکا په افغانستان کې داشغال په پای ته رسولو غواړي دځان لپاره په نړۍ او افغانستان کې شته مشکلات کم کړي اوپه دې لړکې یې عملاً له افغانستانه د عسکرو په ویستلو هم لاس پورې کړ، چې دکوم ځنډ او تاخیر پرته تردې وخته دوام لري، باوردی که دعسکرو ویستلو سلسله هم دغسې روانه دپاتې شوه نو ٦ میاشتې وروسته به د افغانستان اشغال په کامله معنی پای ته ورسیږي

اوبې له شکه ! دغلامانو او اجیرانو پرته داد هر اصیل افغان دضمیرغږدی اوهم ورته ډیرستر تاریخي ویاړ او ملي شرف دی چې دامریکا په څیر پرمختللی معاصرځواک یې مات کړ.

دټرمپ حکومت لخوا دعسکر ویستلو ګام په نړۍ کې هم په پراخه کچه وستایل شو او دنړیوالو او افغانانو لخوا یې ښه تود هرکلی وشو، یواځې دکابل غلامې ادارې لخوا یې په اړه تشویش وښودل شو چې د امریکایي ځواکونو له وتلو وروسته به دوی بې سرپرسته اوبې باداره پاته شي ا و وبه نکړای شي دخپل کرغیړن واک نه دفاع وکړای شي.

اوس تازه چې په امریکا کې ډونلډ ترمپ ټاکنې بایللې او دهغه سیال جوبایډن څوک چې دپخواني تورپوستي ولسمشر اوبامه په دوره کې مرستیال ولسمشر و، ګټلې دي داسې اندیښنې راټوکیدلې دي چې دیمکراتان به دټرمپ تګلارې ته په تغیر ورکولو سره دامریکایي عسکرو دویستلو روانه پروسه وځنډوي او دجګړې داوږدولو پریکړه به وکړي

دسیاسي چارو کتونکو په اند: که جوبایډن داشتباه وکړه چې دځواکونو دانخلاء په بهیر کې ځنډونه اوخنډونه رامنځته کړل، داکار به نه یواځې په افغانستان او افغان ولس باندې دامریکا لخوا تحمیل شوې غمیزه اوږده اونوره وغځوي بلکې دامریکایانو موجوده ستړیاوې او ځاني تلفات به هم په څو واره نور ډیر کړي.



له افغانستانه دعسکرو نه ویستل به دامریکا لپاره داقتصادي اوپوځي دواړو له پلوه درانه زیانو نه ولري او هم به دلته په جګړه ښکېل امریکایي پوځیان او دهغوی کورنۍ نهیلې کړي نو دجګړې اوږدول پخپله دامریکا لپاره بد عواقب درلودای شي.

ولې ښکاره ده چې دامریکا جنګي ستراتیژۍ دبشپړې ناکامۍ سره مخ ده او ډیری کتونکي په دې باور دی چې امریکا دیوو لسم ستمبر وروسته په پیل کړې جګړه کې هیڅ بری نلري نو هرکله چې داسې ده بیا دامریکا د راتلونکي حکومت لخوا د جګړې اوږدول به دمرګونو او ناورینو نو سیوا بله کومه لاسته راوړنه ونلري.

دا سمه ده چې دیوولسم ستمبر وروسته امریکا دخپلو وسلو دپلور لپاره د بازار مندلو په بده موخه په ګڼو هیوادونو جنګونه تحمیل کړل، عراق او افغانستان یې وران کړل، ځو خپل دوسلو صنعت ته تقویت ورکړي خو ښکاره ده چې امریکا په دغه تجارت او کاروبار کې هم دګټې کولو پرځای تاوان وکړ اوهم به په راتلونکي کې په جاري ساتلو یې دپام وړ ګټه ترلاسه نکړي.

نوښه داده چې دامریکا سیاستوال اوپالیسي جوړونکي اشخاص نور دجګړو اودړدولو څخه توبه وباسي او له افغانستانه دخپلو عسکرو روانه لړی همداسې روانه وساتي، اوپه دې لړکې دي جوبایډن او دهغه ډله د ډونلډ ترمپ نه عبرت واخلي زکه چې ټرمپ هم په لومړي راتګ سره دجنوبي اسیا لپاره کومه وحشیانه جنګي تګلاره جوړه او اعلانه کړه،هغه ډیره بد مرغه او کرغېړنه وه، په سبب یې افغانستان باندې د تاریخ ترټولو زیات بمونه وغورځول تردې پورې چې د«بمونو مور بم» یې هم استعمال کړ خوبیا هم دجګړې په ګټلو سره موفق شو او مجبوراً یې خبرې او مذاکرات پیل کړل، دکومو په ترڅ کې چې داوږدو چنو وهلو وروسته دروان کال دفبروي په ۲۹ مه چې دحوت دلسمې سره برابره وه د اشغال پای ته رسولو هوکړه لیک یې لاسلیک کړ، لنډه داچې جوبایډن دي دټرمپ پالیسی په پیروۍ کولو سره دعسکرو ویستلو لړۍ ته دوام ورکړي، دجګړې اوږدولو خوبونه دي ترک کړي دجګړې اوږدولو په صورت کې به یې انجام دویتنام نه هم بد وي.

❋❋❋



# بين الافغاني مذاكرات

## او د سبوتاژ كولو وروستۍ ډرامه

حسن مومند

د انساني تاريخ د تر ټولو ستر عسكري اتحاد ډېرو او عصري وسلو او وسايلو ته په پام سره چا دا گومان نه كاوه چې گيني غريب بې وسلې افغانان به د دوئ مقابلې ته را ووځي؛ تر مياشتو يا كلونو ورسره مقابله روانه ساتل خو ډېره لرې خبره وه خو چې مجاهدين په تش لاس ددې ستر اتحاد مقابلې ته راووتل نو نه يوازې دا چې تر كلونويې ددې لوى عسكري ځواک پر ضد جنگ روان وساتلوبلكې د الله په مدد او د سترو قربانيو په بركت يې دتاريخي ماتې تر سرحده ورسولو.

بيا چا دا گومان نه كاوه چې دجنگ ډگر كې پر دښمن دتاريخي برلاسۍ نه پس به گيني اسلامي امارت دشكست خوړلي دښمن سره خبرو ته كيني.

خودا چې دجنگ پيل يا دوام اصل هدف نه و بلكې د ملت او هېواد بشپړه ازادي، داشغال پاى ته رسېدل او دواقعي اسلامي نظام حاكميت اصل هدف اودملت ستره هيله وه.

دسولې له لارې دجهاد اهداف او دملت دا هيله پوره كېدله او هم هغه جنگ ودرېدلو د كوم له امله چې هره ورځ دملت په لسگونو ياسلگونو بچيان وژل كېږي؛ عامه تاسيسات بمبارېږي؛ كلي ورانېږي او خلک دخپلو كورنو پرېښودلو ته اړ كېږي.

نو دسولې په صورت كې له اسانې لارې د جهاد اهدافو او د ملت هيلو پوره كېدو ته په پام سره اسلامي امارت مذاكراتو ته تيار او په ښه ارادې؛ لوړوعزايمو اوله قوي موقفه يې د دښمن سره مذاكرات پيل كړل اولكه څنگه يې چې دجنگ ډگر كې استقامت ښكاره كړ؛ نه يې ددښمن د زور په مقابل كې سر ټيټ كړ؛ نه دجنگ نه ستړي شول او نه له عالي اهدافو تېر شول د ډيپلوماسۍ په ميدان كې يې هم داسې اسقامت وښود چې نړۍ يې هكه حيرانه كړه.

د كابل ادارې مشران او دامريكا زياتره نظاميان چې خپلې مادي گټې دجنگ په دوام كې ويني دمذاكراتو دسبوتاژ كولو لپاره يې دجنگ ډگر ډېر گرم كړ؛ دولس پر ضد يې د وحشت نه ډک ډېر عمليات تر سره كړل؛ پر اسلامي امارت د نړۍ او ولس دبې اعتماده كولو په هدف يې ډېرې هڅې وكړې خو صد آفرين داسلامي امارت په مدبرو مشرانو چې دوئ يې په خپلو هڅو كې كاميابۍ ته پرې نه ښودل؛ داسې فضا يې جوړه كړه چې امريكايي ديپلوماتانو ته پكې دشاتگ پرځاى وړاندې تگ ښه ښكارېدلو نو مذاكرات تر ۱۸ مياشتو وغځېدل چې دخپل دښمن سره دا د امريكا د تاريخ تر ټولواوږده مذاكرات وگرځېدل او له نېكه مرغه چې امريكا دټولو هغو شيانو منلو ته اړ شوه چې داسلامي امارت بلكې دټول مجاهد ملت لپاره سرې كرښې وې او ترې نه تېرېدل نو لله الحمد چې مذاكرات د اشغال دپاى ته رسېدو په تاريخي تړون منتج شول او د دښمن له كرغېړنو زندانونو نه مو يو، دوه، لس، ياسل نه بلكې پوره ۵ زره قيديان ازاد شول.

دکابل اداره چې دمذاکراتو ددې پړاو او تاریخي تړون د رامنځته کېدو په مخنیوي کې ناکامه شوه نو یې دهغه تاریخي تړون د لغوه کولو لپاره هڅې وکړې چې نه یواځې دافغانانو بلکې دټولې نړې دمسلمانانو لپاره ډېره ستره لاسته راوړنه وه.

دتړون له مخې به چې په ۱۰ ورځو کې ټول ۵ زره زندانیان ازادېدل تر ٦ میاشتو یې دا پروسه وځنډوله چې له امله یې دوهم پړاو یانې بین الافغاني مذاکرات هم ډېر دتاخیر ښکار شول.

خو اسلامي امارت ته دیني اقدار، شرعي مقاصد او دهېواد او ملت علیا اهداف تر بل هر شي وړاندې دي؛ اسلامي امارت قوي تمه لرله چې په بریالیتوب سره دبین الافغاني مذاکراتو دتر سره کېدو سره به افغانستان کې جنګ ختم؛۴۰ کلن بحران ته به دپای ټکی کېښودل شي او دافغانانو دهیلو او خوښې سره سم به یوسوچه اسلامي حکومت بېرته قایم شي نوځکه یې ددې مذاکراتو دتحقق لپاره ډېرې هڅې وکړې.

په بین الافغاني مذاکراتو کې داسلامي امارت له لورې دقاضی القضاة او رهبري شورى دغړو په سطحه دلوړ پوړو استازو ګډون دا ثابتوي چې اسلامي امارت خبرو اترو اوسولې ته پر جنګ باندې ترجیح ورکوي ځکه چې د افغانانو پرځمکه د جنګ دجریان سره ترلې ټول لوی تاوانونه افغانانو ته رسېږي.

خو اشرف غني او دده دفکر ملګري چې دخپل قدرت او مادي ګټو بقا دجنګ په دوام کېویني نو په مسلسل ډول دبین الافغاني مذاکراتو د ناکامولو هڅې کوي.

دکابل نه تللی ټیم د همدې مغرضو عناصرو له لورې رهبري کېږي نوځکه دا ټیم په دې تمه نا معقول او بې ګټې قیدونه او شرطونه رامخې ته کوي چې داسلامي امارت مذاکراتي ټیم د مذاکراتو دپرمخ بیولو نه انکار وکړي او پدې طریقه هم د مذاکراتو پروسه ناکامه او تړون دلغوه کېدو دخطر سره مخامخ شي او

هم ددې هرڅه پړه پر اسلامي امارت ور واچول شي خو لله الحمد چې د اسلامي امارت له لورې د ټاکل شوي مذاکراتي ټیم باتدبیره مشران چې ددوئ په ناکاره ارادو پوه وو نو د دوئ دناروا غوښتنو او نا معقولو شرطونو په مقابل کې یې د زغم نه کار واخست او په هر حالت کې یې د مذاکراتو دپرمخ بیولو لار ونیوله چې پدې طریقه دکابل ادارې دا پلان د کلي ناکامۍ سره مخامخ شو نو ځکه یې د اسلامي امارت په مقابل کې دملت د احساساتو دراپارولو په موخه پر کابل پوهنتون دحملې ډرامه رامخې ته کړه.

نړۍ اوملت شاهد دی چې په تېر ۱۹ کلن جهاد کې هیڅکله هم طالبانو غیر نظامي تاسیسات دخپل برید هدف ندی ګرځولي؛ بل داعش ډلې ددې حملې مسئولیت هم پر غاړه واخست او دحملې کونکو انځورونه یې هم نشر کړل؛ دبرید هدف یې هم روښانه کړ خو بیا هم دکابل ادارې هغوئ بري ګڼل او بې له دې چې تحقیق وشي اوثبوتونه وړاندې کړای شي ددې برید پړه یې پر طالبانو ور اچوله او ددې لپاره چې ملت یې په رښتیا هم دطالبانو حمله وګڼي په هماغه شپه شپه کې یې ګڼ جعلي شواهد هم راپیدا کړي وو؛ خو ددوئ له بده مرغه چې ملت ددوئ پدې جعل او تزویر ډېر ژر پوه شو او ټولو ازادو جورنالستانو او څېړونکو په یوه خوله دا دکابل داستخباراتو کار وګڼه چې داعش ملېشه پکې د آلې په توګه کارول شویده ؛ نو پرځای ددې چې دا ډرامه دوئ ته ګټه ورسوي په سخت تاوان یې تمامه شوه او په ولس کې لا زیات پسې بدنام اومنفور شول.

دکابل اداره باید پدې پوه شي چې نور یې یوه ډرامه هم کار نه ورکوي؛ په ملت کې دمنفور کېدو نه پس اوس په بهرنو بادارانو کې هم سخت منفور شویدي او ډېر ژر دی چې لاس به ترې واخلي بیا به همدې مذاکراتو پسې لاسونه مروړي خو وخت به ځنې تېر وي.



# د اسلامي حاکمیت هدف!

## نوعیت او ماهیت !

ابوظهیر شمس
په تیرپسې

## د اسلامي واکمنۍ مقصد

داسلامي حکومت په تشکیل اوقیام پورې چې دمسلمانانو کومې دنیاوې او اخروي مقاصد او مصالح تړلي دي ، دهغو په اړه داسلامي شریعت معاصرو علماوو څولاندې اصول په ګوته کړي دي:

۱ـ اسلامي شریعت دهیواد لپاره قانون ګرځول څو دعدل و انصاف نظام رامنځته شي.

۲ـ دوګړو ترمنځ اقتصادي او اجتماعي روابط داسې جوړل، چې په ترڅ کې یې هر وګړی اویا فرد په ازادي او و قار سره ژوند تیرکړای شي، هغه دخپلو شخصي او فطري صلاحیتونو دترقۍ او ودې په لړکې د هیڅ ډول خنډونو سره مخ نه وي او هم پکې ورته ټولې ضروري اسانتیاوې برابرې وي.

۳ـ ټول مسلمانان نارینه اوښځینه په دې پوهول او ددې وړ ګرځول چې هغوی یوازې دعقایدو له پلوه نه بلکې دژوند په عملي دایره کې هم داسلامي شریعت په احکامو او اخلاقي لارښوونو باندې پوره، پوره عمل وکړای شي.

۴ـ هغو هیوادونو کې چې دمسلمانانو ترڅنګ د نورو ادیانو پیروان ژوند کوي، هغوی لپاره هم مذهبي او اجتماعي اسانیتاوي برابرول د حکومت په مسؤلیتونو کې راځي.

۵ـ هیواد د بهرنیو یرغلونو او حملو څخه خوندي کول.

٦ـ نړۍ کې داسلامي لارښوونو تبلیغ او تعلیم ته پام کول.

د اهغه مقاصد دي که د یو حکومت واکمن یې په پام کې ونیسي او دتکمیل لپاره یې په حقیقي معنی زیار وباسي نو هغه

حکومت  یا واکمنې داسلامي خلافت نمونه ګڼل کیدای شي.

په دې لړکې  نور تفصیلات اسلامي فقهاوو او علماوو لیکلي دي، په خاصه توګه ابوالحسن علي الماوردي، علامه ابن تیمه، حضرت شاه ولي الله دهلوي، دخلافت، امارت(نصب امامت) مقاصد، دهغه فرایض او واجبات ذکر کړي دي، داسلامي حکومت د وجود  او دهغه دفرایضو  او واجباتوپه باره کې دمتقدمینو علماوو داراوو  کتلو لپاره وګوئ دامام ابوالحسن علی الماوردي« الاحکام السلطانية والولاياتُ الدّينيّة، دابن تیمیه السياسةُ الشرعية فی اصلاح الرّاعی والرّعِية، دامام شاه ولی الله الدهلوی ازالة الخفاعن خلافة الخلفاء. اونور...

داسلامي حکومت مقصد یوائې امنیت قایمول ندي، داسلامي حکومت  هغه نورې ځانګړتیاوې چې دنورو حکومتونو څخه هغه ممتاز ګرځولی شي ځیني یې دادي :

ـ دهغو ټولو غوره چارو دسرته رسولو کوښښونه کول کوم چې  بشریت لپاره د خیر اوښېګڼې سبب ګرځیدای شي  او د هغو ټولو منکراتو د مخنیوي لپاره پخپل ټول ځواک ګامونه پورته کول د کومو څخه چې اسلام  بشریت پاک ـ صاف ساتل غواړي.

ـ اسلامي حکومت د عقیدې، مفکورې او نظریې تابع او ساتونکی دی او د ژوند په ټولو شعبو کې د هغې د واکمنی او قایمولو ذمواردی،بناً د هغه په ټولو ادارو، نظم و نسق اوقانون جوړولو کې داسلامي نظریې سره تړون او اظهار به برملا او  ښکاره وي.

ـ په بل تعبیر داسلامي حکومت واکمن هغه خلک کیدای شي څوک چې  په اسلامي عقیده، مفکوره او دستور باندې ایمان لري او داسلام دسیاسي مفکورې او نظام  سره اتفاق ولري او کوم  خلک چې اسلامي سیاسي مفکوره نه مني، هغوی ته داسلامي حکومت په نظم و نسق کې  ونډه  نه ورکول کېږي او هم به هغوی ته حکومتي مناصب نه ورکوي.

## داسلامي حکومت نوعیت او ماهیت:

یوه اهمه مسئله داسلامي هیواد دماهیت او نوعیت ده، پوښتنه داده چې ایا اسلامي هیواد پخپل ماهیت کې دمنځنیو پیړیو مسیحي ریاستونو پشان کوم دیني ریاست[ پاپائیت/ تیوکراسی] سره مماثلثت لري؟ایا ټولواک( کلیت پسندانه) دی که شورایې  وجمهوري دی؟ د شاهي، موروثیت آمرانه نظریه داسلامي سیاسي نظریې سره څومره مطابقت لري؟په نویو مغربي مصطلحاتوکې کومه اصطلاح داسې ده  چې هغه داسلام په سیاسي نظام باندې پوره منطبق کیدای شي؟ ایا داسلامي حکومت ماهیت او دهغه سیاسي اوضاع  په نویو مغربي  مصطلحاتو کې تشریح اوتعبیریدای شي؟

ښکاره ده چې اسلامي حکومت یا ریاست دټولې نړۍ په معاصرو ریاستونو او حکومتونو کې یو منفرد او جلا نوعیت لري، دکوم نه چې نوي مغربي سیاسي اصطلاحات




د هغه دنوعیت او ماهیت دسهي ترجمانی کولو څخه قاصردي بلکې دهغو استعمال او داطلاق په باره کې دفکري انتشار یوه لویه وجه داده چې کوم مسلمانان او نا مسلمانان داسلام سیاسي نظریې او حکومتي نظام په نو یو مغربي مصطلاحاتو کې دبیانولوکوښښونه کوي هغوی په اصل کې داسلامي ټولنې مسائلو ته یوائې دمغربي تاریخي تجرباتو له زوایې څخه دکتلو کوښښونه کوي، نوي مغربي اصطلاحات مثلاً: جمهوريت، اشتراکیت، پاپائیت اوپارلیماني نظام د اټول یو خاص دیني، تاریخي، کلتوري او سیاسي شالید لري او هریو ځا نته جلا، جلا مفاهیم لري ،« چې مطلق او غیر متّبدل معنی لرونکي دي» نو په دې وجه دتوړل شویو او ترشل شویو سیاسي اندونو انطباق په اسلامي سیاست او حکومت باندې کول مناسب ندی. مثلاً دجمهوريت اصطلاح چې نن سبا ترډیره یادیږي، دا په اصل کې دفرانسوي انقلاب زیږنده ده، د ټولو ښاریانو د عمراني او اقتصادي مساوات اصول او دهر بالغ فرد دیوې رایې په بنا یعنې دټولو بالغو وګړو د رایو په اکثریت د غوره شویو استازو په زریعه حکومت جوړول، د دې اصطلاح پراخ مفهوم دادی چې عامو وګړو ته په ټولو اجتماعي معاملاتو کې داکثریت اصل له مخې د قانون جوړولو لامحدود واک حاصل دی... خو دعامو وګړو رضایت هله شونی دی چې هغوی د ټولو خارجي بندیزونو څخه ازاد شي، فایق وبرتر وګڼل شی... او یوائې ځان ته ځواب ویونکي شي... نه بل چاته! نو دنوي جمهوريت کومه مفکوره چې مغرب وړاندې کړې ده، له دې پلوه که څه هم د اسلام په نزد هم ټول انسانان دعمراني اعتبار له پلوه سره یواوټو لو ته د ودې وارتقاء مواقع یوشان حاصل دي خو له دې پلوه د اسلام دد ې نظریې سره یو مخ متصاد دی چې اسلام په مسلمانانوباندې لازمي کړیده چې هغوی به خپلې ټولې فیصلې دهغه الهي قانون تابع ګرځوي، کومې چې په عظیم الشان قرآن کې راغلې دي او رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغو باندې دعمل نمونې وړاندې کړې دي، په دې وجه دامت لخوا دقانون په جوړولو باندې اسلام بندیز لګولی دی او دعامو وګړو اراده یا رایه هیڅکله برترې نلري، کومه چې دمغربي جمهوريت لاینفک جزده،په دې وجه دمغربي جمهوريت «اصطلاح اثباتاً یا نفیاً» داسلام په سیاسي نظریې اطلاق کول دابهاماتو فضا پیدا کوي نور بیا...




# ټرمپ ولې د ذلت نه ډک شکست وخوړ؟

په امریکا کې اوسني د ۲۰۲۰م ولسمشریز انتخابات ډېر له جوش او جذبې نه ډک او له مختلفو اړخونو بې ساري وو؛ دجمهوري غوښتونکو او دیموکراتانو گوندونو دمشرانو تر څنگ ددې دواړو گوندونو سره تړاو لرونکي عام کارکوونکي هم ډېر متحرک وو او دخپلو مشرانو د بریالیتوب لپاره یې بې ساري سترړیاوې وگاللې. دامریکا ولسمشر ډونلډ ټرمپ له څرگندونو داسې ښکارېده لکه چې دخپل بریالیتوب په اړه له حد نه زیات هیله مند و؛ هیڅ یې په خیال او خاطر کې نه راتله چې گیني دده سیال جوبایډن به ورنه میدان وگټي؛ ټرمپ پدې خبرې کلک باوري و چې دامریکا دتېرو ولسمشرانو په څېر به دی هم په دوهم ځل په ټاکنو کې بریالی او په اسانه به د امریکا منتخب ولسمشر- شي خو نتایج بیا دهیلو او اندونو عکس وو؛ ټرمپ ماتې خوړلې وه او جوبایډن بریالی شوی و.

د رایو اچونې دبهیر ختمېدو نه پس چې لا درایو شمېرنې لړۍ روانه وه ټرمپ خپل بریالیتوب اعلان کړ او ویې ویل: که په انتخاباتو کې بریالی نه شو نو دده پر ضد به د درغلۍ نه کار اخستل شوی او قصداً به ناکام کړای شوی وي.

د ټرمپ دې څرگندونو امریکایان او نړیوال حیران کړل او ډېرو وویل: ټرمپ دسیاسي بصیرت نه یو بې برخې انسان دی.

اوس په رسمي ډول نتایج اعلان شویدي او د رسمي اعلانونو له مخې دټرمپ مخالف جوبایډن په داسې قاطع اکثریت سره کامیاب شوی چې د امریکا په تاریخ کې یو ولسمشر هم دومره زیاتې رایې ندي اخستي خو ټرمپ د انتخاباتو دنتایجو او دخپل شکست له منلو انکار کوي او وایې چې نتایج به په سترې محکمې کې چیلنج کړي ځکه چې ورسره درغلي شوی او قصداً ناکام کړای شویدی.

که په دقیق نظر وکتل شي دا خبره ښه روښانه کېږي چې د امریکا جمهوري نظام په ډېرې تېزۍ مخ پر زوال روان دی او هغه اهداف یې تر لاسه نکړل کوم چې ددې نظام معمارانو په نښه کړي وو؛ نه رنگ او نسل پرستي له منځه ولاړه او نه د وسایلو د عادلانه ویش خبره عملي شوه بلکې د غریب او بډای تر منځ واټن ډېر زیات شو غریب وگړي لاپسې غریب او بډای لاپسې بډای شول؛ دهمدې امریکا لس دولس

تنان دي چې دټولې نړۍ دتر ټولو بډای خلکو افتخاريې په برخه کړای شويدی.

شعارونه د جمهوريت او ديموکراسۍ دي خو دپردې تر شا هر څه د هغه پانګوال زبېښاګګر نظام نه جاربږي چې دبډای لاپسې بډای کېدل او غريب لاپسې غريب کېدل ددې نظام روح دی.

ټرمپ خوبيا دامريکا جمهوريت او ديموکراسي بيخي په شرمونو وشرموله.

ټرمپ چې د تېرو ۴ کلونو راهيسې دامريکا ولسمشر و ټول هغه اقدامات يې وکړل چې پرې امريکايې ولس ويشل کېدای شو؛ دکورني او بهرني سياست يې هيڅ سر اوپښې نه وې معلومې او نه يې دا غم کاوه چې څرګندونې او اقدامات به يې په هېواد کې دننه يا له هېواد نه بهر نړۍ کې ناوړه غبرګونونه رامنځته کړي؛ څه يې چې په خولې راتلل هغه به يې ويل؛ څه به يې چې زړه منل هغه به يې کول؛ نفرت خپرول او نورو ته دنفرت په نظر کتل يې بيخي خوږ ګرځېدلی و؛ دمسلمانو مېرمنو پسې يې خندنئ وکړې؛ څو ځلې يې دمخالفو رسنيو سپکاوی وکړ؛ دامريکا فيدرالي ادارې يې هم په بدو نومونو يادې کړې؛ دمخالفو سياسيونو پرضد يې بده ژبه وکاروله؛ دملي امنيت مشاور جان بولټن په وينا يې دسپينې ماڼۍ دمامورينو سپکاوی هم کاوه؛ امريکا کې مېشت کډوالو باندې يې دامريکا ځمکه سره تبۍ کړه؛ تور پوستو باندې د ظلم او وحشت حمايت يې وکړ؛ او سپين پوستي يې نسل پرستۍ ته ښه ډېر وهڅول.

د ټرمپ د واکمنۍ تېر ټول ۴ کلونه د ټولنيز انتشار نه ډک وو چې تور پوستو ته يې د غلامۍ دور ورياد کړ نو ځکه ويل کېږي چې دا بواځې د جوبايډن نه بلکې د دټرمپ له لورې د خپرې شوې نسل پرستۍ او تعصب پر ضد د ټولو افکارو او حرکتونو فتح ده.

لا انتخاباتي نتايج نه وو اعلان شوي چې جوبايډن وويل: بې له شکه چې ولسمشر ـيزو ټاکنو کې زما ګډون د ديموکرات ګوند دغړي په حيث و خو له انتخاب کېدو نه پس به څه د ټولو امريکايانو ولسمشر ـيم؛ زما حاميان دې دزغم نه کار واخلي؛ په سياست کې نفرت او دښمنۍ ځای نه لري؛ په امريکا کې دامريکايې ولس دوحدت اسباب ډېر او د ويش اسباب يې کم دي.

جوبايډن دخپل انتخاباتي کمپاين پر مهال وعده کړې وه چې په دټرمپ دواکمنۍ پرمهال په امريکا کې خپره شوې نسل پرستي او د دتور پوستو پر وړاندې د تعصب نه ډک ناوړه سلوک به له منځه وړي.

امريکا کې چې ټول وګړي د وړيا صحي اسانتياو نه بې برخې دي چې له امله يې په امريکا کې هر کال په لسګونو زره غريب امريکايان خپل ژوند له لاسه ورکوي؛ بارک اوباما دخپلې واکمنۍ پرمهال غريبو خلکو ته وړيا صحي اسانتياوې برابرې کړې وې چې ورنه سونو زره بې روزګارو خلکو ګټه پورته کوله خو واک ته د رسېدو سره سم ټرمپ داوباما سره ددښمنۍ له امله دغه پروګرم له منځه يوړو او ويې ويل چې دې په امريکا کې د ټيکس ورکونکو وګړو پيټې زيات درونډ کړيدی. جوبايډن ويلي چې امريکايانو ته به وړيا صحي اسانتياوې برابرې کړي.

جوبايډن دخپل بريالیتوب داعلان نه پس داسې متوازنې خبرې وکړې چې د امريکايي ولس ترڅنگ يې دنړۍ لپاره هم له ځان سره ښه پيغام درلود؛ هغه پدې پوه دی چې ټرمپ نه يوازې دا چې امريکا يې ويشلې ده بلکې دامريکا روابط يې هم دنړۍ دزياترو لويو ځواکونو سره خراب کړيدي.

جوبايډن په خپلې وينا کې وويل: دامريکايي ولس دمتحد کولو پوره هڅه به کوم ځکه چې يوازې د ديموکراتانو نه بلکې دټولې امريکا ولسمشر يم؛ کومو خلکو چې راته رايې ندي راکړې دهغوئ مدني حقوق به هم خوندي وي.

جوبايډن زياته کړه چې دکرونا پر ضد دنوي طرز العمل جوړولو؛ د اقتصادي بحران ختمولو؛ دنسلي همغږۍ پيداکولو او دچاپيريال پاک ساتلو لپاره به جدي اقدامات وکړي؛

د سخت دريځۍ او نسل پرستۍ دله منځه وړلو لپاره به نوې کړنلاره رامخې ته کړو؛ دنړۍ دسترو هېوادونو سره د ښو روابطو دجوړولو لپاره به نوې بهرنۍ پاليسي- جوړه کړو ترڅو دټرمپ له لورې د نړۍ سره د اختلافاتو او ترينگلتيا رامنځته کړای شوې فضا په دوستانه فضا بدله شي.

دامريکا دهر ولسمشرلپاره دامريکا گټې تر ټولو زياتې مهمې وي او هر يو د نورې نړۍ نه بلکې دامريکا دگټو لپاره کار کوي خو دخپلو گټو ساتلو او اهدافو لاسته راوړلو لپاره دټولو کړنلاره يو شان نه وي؛ ځني له کاميابې ديپلوماسۍ کار اخلي او په بريالیتوب خپله د واک دوره تېروي او ځني دزور ژبه کاروي او ناکامېږي؛

د ټرمپ کړنلاره داسې وه لکه چې يې ديپلوماسي هيڅ نه پېژندله؛ دخپلې واکمنۍ په ټولې دوره کې يې دخپلو کورنو مخالفينو او بهرنو مخالفو هېوادونو پر ضد يوازې دزور ژبه وکاروله؛ خو له بده مرغه چې په نړۍ کې يې هيچا هم د زور ځواب ونه ويلو.

په پيل کې يې زموږ پر ضد هم ډېره بده ژبه کاروله؛ فوځيان او فوځي طاقت يې هم زيات کړ؛ هغه تېر تاريخ ته نه کتل او نه يې ددې وړتيا لرله؛ گومان يې کاوه چې دنورې نړۍ په څېر به يې افغانان هم زور ته سرونه ټيټ کړي خو د خپل زور په مقابل کې يې چې د مجاهدينو زور وليد او د زور کړنلاره يې دلته په بشپړ ډول ناکامه شوه نو دخپلو فو ځي مشرانو پرلور يې خپله خوله راتاوه کړه سخت يې ملامت کړل او ځني يې په سختې بې عزتۍ له دندو گوښه کړل.

ټرمپ يو کاروباري سړی و په نور څه ډېرنه پوهېدلو؛ مادي گټو او تاوانونو ته په کتو به يې دهرڅه ارزونه کوله؛ کله چې د جنگ دگټلونه نا هيلی او دجنگ بې گټې زخت زيات لگښتونه يې رامخې ته شول نو يې د دې جنگ ودرول او دخپلو فوځونو ويستل گټور وبلل او د اسلامي امارت سره د مذاکراتو لار يې خپله کړه چې پکې يې ښه جديت ښکاره کړ.

دټرمپ دناکامو کړنلارو بدې اغېزې چې د جوبايډن مخې ته دي نو تمه کېږي چې نسبتاً داعتدال لار به خپله کړي؛ په دوحه کې د اسلامي امارت سره رامنځته شوی تاريخي تړون به له ماتېدو وژغوري؛ افغانستان کې دجنگ بندولو او فوځونو ويستلو کړنلاره به تايد او تقويه کړي او دنړۍ په گڼو برخو کې د امريکا له لورې درامنځته کړای شوي او رامنځته کولو سياست به پربېږدي چې به ورسره په نړۍ کې د جنگ او بد امنۍ حالت دامن پر لور روان شي.



# د اسلامي دعوت اخلاقي بنسټونه

ژ: احمد حمزه

## خلکو ته مینه ورکول

پدې کې شک نشته چې هر مسلمان ته د خلکو له خوښۍ دمخه د الله تعالی رضایت او خوښي هدف دی او دا هم څرګنده ده چې کله موږ په توند اخلاقۍ او په سخت زړیتوب مشهور شو، نو خلک به موږ څخه نفرت کوی او راڅخه لرې لرې ګرځي او تښتي ، البته په یو وخت کې د الله تعالی خوښي او خلکو سره د مینې پاللو یوځای کول هم کوم ستونزمن کار نه دي، البته که موږ له حکمت څخه کار واخیست او د شریعت مقاصد مو په ذهن کې ونیول.

هرهغه څه چې موږ یې خلکو ته په مینه ورکولو کې غواړو: خپل ځان د ملګرتیا کوونکو او مینه پالونکو صفاتو باندې ځان سمبالول دي... هغه که چېرته تا په کوم مسلمان شخصیت کې بشپړ ولیدل نو خلک به هغه سره مینه کوي او هغه پورې به پیوست کیږي او د هغه به مني، چې همدا د پیغمبر ﷺ شان و، د هغه په اړه په یو اثر کې راځي چې: **(من رآه بديهةً هابه ومَن خالطه معرفةً أحبه)** چا به چې ناڅاپي ولیده، درناوی به یې کاوه او چا چې به ګډ وخت ورسره تېر کړ، له هغه سره به یې مینه کوله) نو خلکو ته ځان نژدې کول په حقیقت کې د بلنې منلو ته د خلکو زړونه پرانیستل دي او هم داسې اغېزمنو وسائلو او تګلارو څخه کار اخیستل چې د انسان په طبیعیت تاثیر غورځوي، څکه خو ابوهریره رضي الله عنه له پیغمبر ﷺ څخه د داسې دعا غوښتنه وکړه چې هغه سره دخلکو مینه او خلکو سره د هغه مینه زیاته شي: **(ادعُ الله أن يحببني أنا وأمي إلى عباده المؤمنين ويحببهم إلينا)** (الله تعالی ته دعا وکړه چې ما او مور مې مؤمنو بندګانو ته محبوب او موږ ته هغوی محبوب وګرځوي)، نو پیغمبر ﷺ د هغه خبره ومنله چې او دعا یې وکړه : «**اللهُمَّ حَبِّبْ عُبَيْدَكَ هَذَا - يَعْنِي أَبَا هُرَيْرَةَ - وَأُمَّهُ إِلَى عِبَادِكَ الْمُؤْمِنِينَ، وَحَبِّبْ إِلَيْهِمِ الْمُؤْمِنِينَ**» اې ربه! ستا دغه بنده ګوتی (ابوهریره) او مور یې مؤمنانوته محبوب او دوی ته مؤمنان محبوب وګرځوه.

دا هم پيغور نه و چې يو سړی دې رسول الله ﷺ ته راشي ودې وايي: ماته داسې نيک عمل پـه گوتـه کـړه چې زه هغه وکړم الله تعالی او خلک هم راسره مينه وکړي خو رسول الله ﷺ هغه ته د مينې ترلاسه کولو اسـباب ورښيي، څنگه چې حديث کې راځي: «**ازهَد في الدنيا يحبَّك الله، وازهد فيما في أيـدي النـاس يُحبُّـوك» لـه دنيـا څخه لرې اوسه، الله تعالی به درسره مينه کوي او کوم څه چې خلکو سره دي، له هغې بې پروا اوسه ، هغوی بـه درسره مينه کوي).** دا واضحه خبره ده چې د صحابه و تلوسه پدې کې وه چې د دوی شخصيتونه خلکو ته خوښ او د منلو وړ وي، سربېره پردې دوی غوښتل د الله تعالی خوښي حاصله کړي ، له دواړو حرصـونو تـرمنځ کـوم ټکر هم رانه شي، ځکه په هر يوه کې د الله تعالی رضا ده، نو د دواړو چاره يو سبب ته وگرځېده.

پيغمبر ﷺ هغو کسانو ته چې ايمان به يې کمزوری و، په هديو او تحفو ورکولو سره مينـه ورکولـه، چـې د دوی زړونه په مينې راکاږل شي او د جهنم له اوره بچ شي ، څنگه چې هغـه ﷺ فرمـايي: « **إِنيِّ لَأُعْطِـي الرَّجُـلَ، وَغَيْرُهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْهُ، خَشْيَةَ أَنْ يَكُبَّهُ اللَّهُ فِي النَّارِ**» زه به خامخا سړي ته (يو څه عطاء) ورکوم – دا نور صحابه ماته له ده ډېر خوښ دي ... (مگر هغه ته ) پدې وېره ورکوم چې هسې نه الله تعالی يې پرمخې په اور کې واچوي.

آيا تاسې خلکو سره د مينې او نژديکت لپاره لدې پرته کوم بل سبب او باعث ليدلی چـې هغـه مشـــرانو او اميرانو ته د خپل رعيت په نژدې کېدلو کې او يا رعيت له خپلو وېرېدونکو اميرانو سره مينې اړکولو کې مهم وي.

په همدې اړه پېغمبر ﷺ فرمايي: «**ألا أخبركم بخيار أمرائكم وشرارهم؟ خيارهم الذين تحبونهم ويحبونكم، وتدعون لهم ويدعون لكم، وشرار أمرائكم الذين تبغضونهم ويبغضونكم، وتلعنـونهم ويلعنـونكم**» آيـا تاسـې پـه غوره او ناوړه مشرانو باندې نه خبروم؟ د دوی غوره يې هغه دي چې (د عادلانه برخورد له وجې) تاسـې هغـوی سره او دوی له تاسې سره مينه کوي، تاسې هغوی ته او هغـوی ستاسـې لپـاره دعـاوې کـوي، او نـاوړه مشـــران ستاسې هغه دي چې تاسې هغوی او هغوی تاسې نه خوښوي، تاسې په هغوی او هغوی په تاسې لعنت وايي).

پدې کې هيڅ شک نشته چې دغسې مينه پيدا کول او نژدې والی که چېرته د الله تعالی رضا لپاره نه وي نو بيا به د منافقت غوړه مالي او چاپلوسي يو ډول وي، نو د الله تعالی لپاره مينه کول داسې څـه دي چـې تـا سره د خلکو محبت زياتوي ځکه چې ته به هغوی سره په خپلو لاسو د نيکۍ کولو هوډ لرې، نو مسلمان بانـدې لازمـه ده چې «**أن يحب المرء لايحبه إلا الله**»..(حديث) (چې له سړي سره يواځې د الله تعالی لپاره مينه وکړي) نو کله چې محبت په همدې شکل بشپړ شي بيا په کمال ايمان باندې دلالت کوي:«**من أحب لله وأبغـض للـه، وأبغـض لله، وأعطى لله ومنع لله، فقد استكمل الإيمان**» چا چې د الله تعالی لپاره مينه وکړه، د الله تعالی لپاره يې پرېکون وکړ، د الله لپاره يې (صدقه) ورکړه ، د الله لپاره يې له (چا) وگرځوله، نو په حقيقت کې د هغه ايمان بشپړ شو.

که واقعيت ته وگورو ډېری داسې نصوص شته چې ايمان او مينه پاللو ترمنځ تـړاو پيـدا کـوي، پـدې اړه د پيغمبر ﷺ وينا داده: «**لا تدخلون الجنة حتى تؤمنوا، ولاتؤمنوا حتى تحـابوا، أَوَ لاأدلكـم عـلى شيءٍ إذا فعلتمـوه تحاببتم، أفشوا السلام بينكم**» تاسې ترهغې جنت ته نه شي ننوتلی چې ايمان مو نه وي راوړی، او ترهغې مـؤمن

نه شي جوړېدای چې یو له بله مو مینه نه وي کړي، آیا زه تاسې ته داسې څه نه درښیم چې تاسې یې وکړئ ، یـو بل سره مینه ناک شئ، یو بل ته د اسلام اظهار وکړئ!

د مینې ستر شان او شوکت او هرې خوا ته دهغې پلوشو په خپرولو د حال غوښتنه دا شوه چې پیغمبر ﷺ په خپله د مینې په وسائلو او اسباب لارښودنه وکړه لکه څنگه چې لدې وړاندې یې د ایمان بشپړول هـم همـدې پورې وتاړه.

ځینې نور صورتونه شته چې ملگرتیا جلبوي او زیـاتوي او زړونـه مـایلوي، هغـه آرامـي او سـکون او پـه مجالسو کې په وقار او درناوي تعامل. ابو مسلم الخولاني روایت کوي چـې هغـه یـوه ورځ د حمـص جومـات ننوت، هغه یو ۳۰ کلن ځوان صحابي ولید کله به چې خلک په یوه مسئله کې سره جمعه شـول، نـو هغـه تـه بـه ورغلل ، هغه څخه به یې د مسئلې په اړه پوښتنه وکړه، نو ما خپل ناست ملگـري تـه وویـل: دا څـوک دی، هغـه زیاته کړه: معاذ بن جبل دی نو په زړه کې مې هغه ته مینه راغله، بیا مې هغه ته خپله وویل:سوگند پـه اللـه زه لـه تاسره مینه لرم، هغه وویل: په څه کې له ماسره مینه کوې؟ ما کړه: د الله تعالی لپاره .. هغه وویل: زېری درکـوم ، که رښتینی یې، ما رسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي: هغه ویل: «**المتحابون في جلالي لهم منابر من نور يغـبطهم النبيون والشهداء ..**» **زما په عظمت باندې محبت کوونکي لپاره به د رڼا منبرونه وي چې پیغمـبران او شـهیدان بـه هم ورته تعجب کوي.**

**همدا راز د زړونو خلاصولو لپاره اسانه کیلیاني:** په خوشالی یو بل ته ښه راغلاست ، پـه روڼ هرکلـی، پـه موسکا همېشه توب کول دي، یو صحابي د پیغمبر ﷺ په اړه وايي: ما لـه رسـول اللـه ﷺ څخـه زیـات موسـکا کوونکی نه دی لیدلی. (**ما رأيت أحدًا أكثر تبسمًا من رسول الله** - ﷺ-) پدې کې چې ته خپل محبوب ته د خپلې مینې اظهار وکړې، شاید حکمت دا وي چې د محبت معناوې وچوي او په دواړو طرفونو کې اړیکه لا مضـبوطه کړي.

د پیغمبر ﷺ په شمائلو او د سیرت مختلفو اړخونو کې داسې دقیق حالتونه شته چې د هغه ﷺ لخوا خلکو سره د مینې پاللو له دې هم ډېر تینگار پکې لیدل کېږي؛ په یو حـدیث کـې راځـي: (**كـان يمـر بالصـبيان فيسـلم عليهم**) پیغمبر ﷺ به چې کله په ماشومانو تېرېده نو سلام به یې پرې اچـوه) لـه هغـوی سره بـه یـې خواخـوږي ښودله او ټوکې به یې ورسره کولې، د هغه ﷺ حال له خپلو ملگرو سره هم همداسې و، چې (**که کوم صحابي به ورسره مخ شو، نو هغه ﷺ به ترهغې ورسره ړلاړ و، چې سړی به خپلـه گرځېـدلی نـه و او کـه کـوم صـحابي بـه ورسره ستړي مشي کوله نو هغه به یې لاسونه تر هغه نیولي ساتل، چې هغه به سړي به خپله نه و پرېښي...**).

نو معلومه شوه چې پیغمبر ﷺ کمزورو خلکو ته هم د مینې اظهار کاوه، که په لاره کې به یوې وینځې هم ودراوه، او خبرې به یې ورته کولې، نو ترهغې به نه ستنیده چې هغه به خپله نه وه ستنه شوې، (هغه بـه بـې وسـه مسلمانانو ته ورته، له هغوی سره به یې لیدل، د مریضانو پوښتنه به یې کوله او په جنازو کې به یې ورسره گـډون

کاوه (**کان یأتي ضعفاء المسلمین، ویزورهم، ویعود مرضاهم، ویشهد جنائزهم**) له هغه څخه به خلک په ټیلو ټیلو نه ویستل کېدل او دده په وړاندې به نه وهل کېدل (**کان لا یُدفع عنه الناس، ولا یُضـربوا عنه**) لکه څنگه چې هغه به د یو شي په اړه نه غوښتل چې څه ووایي، ویل به یې: نه! که د یو کار په اړه به پوښتنه ورنه وشوه، کـه بـه یـې خوښه وه، ویل به یې: هو، او که به یې اراده ورته نه وه، نو بیا به غلی شو او لکه څنگه چې هغه بـه دخپـل ځـان خدمت په خپله کاوه...

که دا ټول صفات په چا کې سره جمعه شي هغه به حتماً د خلکو پـه نـزد مقبـول او خـوښ وگرځـوي؛ لـه همدې وجې چې کوم سړی به هم نبي ﷺ ته راته ، د بېرته وتلو په وخت کې به بې تاثیره او بې اغیزه نه ووت، په همدې اړه عمرو بن العاص ﷺ د خپل ځان په اړه وایي: (**ته پدې ځان خبره کړه چې له رسول الله ﷺ سره ترټولو سخت دښمنی پالونکی له ما څخه بل څوک نه و او نه هم تر ما ډېر پدې خوشالېده چې دهغه پـه وژلـو برلاسـی شم**)... خو وروسته له هغې چې د پیغمبر د مینې او محبت تاثیر پرې پرېووت، بیا دا برعکس شو (**بیـا مـا تـه تـر پیغمبر ﷺ هیڅوک زیات گران نه و، نه زما په سترگو ترهغه بل څوک ډېر خوږ لگېده، زما پدې تـوان نـه و چـې د هغه په جلال او درناوي سترگې خوږې کړای شم، که چېرته له ما څخه پوښتنه شوې وای چې د هغه صفات بیـان کړم ، ما یې وسه نه درلوده، ځکه زما سترگې د هغه په عظمت نه وې ډکې شوې**)

کله ناکله دا محبت په ډېرو ساده شکلونو سره وي، هغه چې پیغمبر ﷺ پدې وینا سره ورته اشاره کړې: «**الرؤیا الصالحة من الله فإذا رأی أحدکم ما یحب فلا یحدث بها إلا من یحب ..**» نیک خوبونه د اللـه تعـالی لخوا نه وي، که چا له تاسې څخه داسې کوم خوب ولید چې خوښیده یې، نو هغه دې یواځې هغه چاته بیان کړي چې مینه یې ورسره لري) او دا یو نوعـه وجـداني مشـارکت بللـی شي ، تـردې حـده بایـد دا مشـارکت موجود وي چې د زړه غم یا د باطني عقل خیالات او هم له احساساتو ورآخوا د یوې بلې نړۍ خاطر هـم یـو بل ته وویل وشي چې همدا یوبل ته د ځان گرانولو او محبت د گراف لوړېدلو اخري حد هڅه ده، له همدې وجې پیغمبر ﷺ کوشش کاوه چې د صحابه و سره په وینـه او ویـدو ، پـه غـم او پریشـانیو کـې گـډون او همدردي سره واوسیږي. کله به چې هغه ﷺ د سهار له لمانځه راوگرځېده او هغوی ته به یې د خوبونو تعبیر کاوه، ابن عباس ﷺ روایت کوي: چې هغه به وفرمایل: (من رأی منکم رؤیا فلیقصها؛ أعبرها له ..) که چا پـه تاسې کې خوب لیدلی وي، نو ودې وایي ؛ چې ورته تعبیر یې کړم...) البته زړونـو تـه دغسـې پـه لنـډه لاره ورتلل هم هوښیاري او په مناسبو وختونو کې د دریځونو او ځایونو څارلو ته اړتیـا لـري. ټولـو کـارونو لپـاره اساس دا دی چې ته الله پاک ته خوښ یې، نو بیا هغه جل جلاله په ځمکه کې خپله تاته قبولیت پیـدا کـړي، نو ته د الله تعالی مینه او محبت جلب کړه، بیا به هغه تا لپاره د خلکو زړونه خلاصوي او جلبـوي او هرهغـه څه چې مینه پیدا کوي، هغې ته به دې پر لاره ورگرځوي؛ نو هوښیار بلونکی هغه دی چې د نورو زړونـو پـه فتحه کولو قادر وي؛ بیا حتمي ده چې هغه لپاره ښارونه فتحه شي.



# دامریکایي یرغل لومړۍ شپه؛
# پرون او نن!

■ قاسم مُحسِن ازره وال

د افغان مجاهد ولس لپاره پرون او نن ډېر توپير لري،پرون په (۲۰۰۱) د اکتوبر په (۷) مه په افغانستان د نړۍ لسگونو پرمخ تللیو هیوادونو بې رحمه او بې قانونه یرغل راوړ او په دې موخه یې یرغل وکړ چې افغانستان او افغان ولس د نړۍ له نقشې څخه ورک کړي.

یو طرف ته د وخت ستر فرعون بوش له سپینې ماڼۍ اعلان وکړ او ټوله نړۍ یې مخاطبه کړه چې یا له مونږ سره شئ او یا له ترهگرو طالبانو سره، او زیاته یې کړه چې طالبان دوه لارې لري مرگ او یا زندان تسلیمي یې هم نه منله، په ډېر کبر او غرور سره یې وویل، مونږ به طالبان د آبد لپاره په افغانستان کې ورک کړو او دایې هم وویل،چې دا یوه صلیبي جگړه ده چې اوس پیل شوه.

ټولې اسلامي او غیرې اسلامي نړۍ د بوش په پلوۍ نعارې سر کړې.

بل طرف ته د وخت ملنگ او د قوي عزم څښتن آمیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله د امریکا په قیادت نړیوال ایتلاف ته په یوازې تن راووت او له لوی قندهار څخه یې د بوش په خلاف د جهاد اعلان وکړ، او زیاته یې کړه چې امریکا به د لیست له سر څخه د لیست و پای ته راځي،د آته څلویښت هیوادونو په خلاف په نظامي میدان کې ودریده په داسې حال کې چې طالب جنگیالي د نړۍ له عصري نظامي امکاناتو څخه هم بې برخې و.

ټوله نړۍ یوې خواته او افغان طالبان بلې خواته!

د یو خوار ملت له جوماتو او مدرسو څخه راوتو په شمار طالبانو ته د نړۍ اته څلویښتو پرمخ تللیو هیوادونه هجوم راوړ.

یو طرف ته پرمخ تللی عسکر کروز، او بې باؤن،او بل طرف ته په مقابل کې یې د مدرسې ساده طالبان او زنگ وهلي راکټونه، کلاشینکوف او پیکه قرار لري!

نړۍ د طالبانو مقاومت خندوونکی باله.

هو! بې له شکه رېښتیاهم جگړه هم داسې خندونکې ښکاریده داسې وه لکه دمیږي او تمساح جگړه چې وي.

د۲۰۰۱ کال هغه شیبې مې نه هیرې چې له مِیزُوري هوائي اډې څخه په یو وخت ۲۵بي باون B.52بم غورځوونکې الوتکې په گران هیواد دگوزارونو لپاره هواته پورته شوې، ورسره سم له عرب سمندرگي څخه د (دامهاذ) کروز توغندیو پرله پسې په

کابل ،قندهار،جلال اباد،شینډنډ،خوست او په باګرام هم مهاله سره اورونه ورول.

هغه مهال افغانستان دنړۍ دخبرونو سر ټکی وګرځیدو.

خو لله الحمد د افغان غیرتي ولس زړورو بچیانو مجاهدو طالبانو، د امریکا تجاوز او یرغل ته په میړانه د جګړې ډګر ته راووتل، او بې ساري مقاومت یې لاس پورې کړ،هغې نړۍ چې طالب مقاومت یې خندوونکی باله،ګوته په غاښ پاتې شوه.

په داسې حال کې چې طالبانو دهوايي ځواک ضد اسلحې هم نه لرلې.

دغه مهال چې امریکایي ځواکونو د طالبانو خطونه بمبارول رباني له امریکایي ځواکونو وغوښتل چې په طالبانو باید له دې هم غټ او درانده بمونه واچوئ ترڅو یې خطونه مات شي دربانې دغه بې وجدانه جمله به دتل لپاره په تاریخ کې پاتې وي.

طالبانو په تیرو نولسو کالو کې داسې مقاومت وکړ،چې د نړۍ په تاریخ کې یې قطعا" ساری نه لیدل کیږي.

امریکه او د متحدینو یې په افغانستان کې په تیرو نولسو کلونو کې پوره زور او ځواک استعمال کړ،هر ډول ظلم او وحشت یې ترسره کړ،هر ډول چل،فریب او شیطاني تدبیرونه یې په کار واچول خو د الله تعالی په مرسته او د افغان ولس په بې دریغه قربانیو یې هر ځه له ماتې سره مخ او ناکام شول.

او بالاخره د افغانانو د بې ساري مقاومت او باعزمه جهاد په واړندې سرټیټي او سلامي شول،او څو میاشتې دمخه یې د کب په لسمې خپله ماتې او د افغانانو اسقلال پ رسمیت وپیژانده.

او د دغه آیات مصداق وګرځیدل!

وَرَدَّ اللَّهُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِغَيْظِهِمْ لَمْ يَنَالُوا خَيْرًا ۚ وَكَفَى اللَّهُ الْمُؤْمِنِينَ الْقِتَالَ ۚ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزًا [سُورَةُ الأحزاب : ٢٥]

هو بې له شکه دوی له غصې خوټیدلي اوس په داسې حال کې ستنیږي،چې کومه بریا یې تر لاسه نه کړه، زمونږ لپاره په جګړه کې یو الله ج کافي اوبس دی.

هو بې له شکه پرون او نن د افغان اولس او طالبانو لپاره ډیر توپیر لري،پرون همدا نړۍ د طالب خلاف وه،خو نن ورسره دوستي کوي.

پرون نړیوالو طالب ته په افغانستان کې د ژوند او دشپې حق نه ورکاوه،خونن ورته په خپلو دنګو ماڼیو کې دعوت او هستوګنې ځایونه ورکوي.

پرون او نن زمونږ لپاره ډیر فرق لري.

پرون د نړۍ لپاره خلکو ترهګر یادولم!

نن مې د نړۍ لپاره امن پریښتې یادوي.

پرون زندان ته وړل کیدم، نن له زندان څخه خلاصیږم.

امریکه پرون رابانديې تیری وکړ،نن راته زاری کوي چې عسکر مې مه وژنه صرف د تیښتې لار راڅخه غواړي.

هو بې له شکه امریکې د زرګونو عسکرو تر وژلو او تریلینونو ډالرو تر مصرف کولو وروسته بیاهم طالبان مات او ورک نه کړل او برعکس امریکه په ملا ماته او طالبان بیاوړي شول.

افغانان که په خپل تاریخ کې له انګریزانو او روسانو د خپلواکۍ کلیزې لري او لمانځي یې.

خو نن یې په خپل ویاړمن تاریخ کې د امریکه ماتې او د کب لسمه یوه بله له ویاړونو ډکه ورځ هم ور اضافه کړه....

نصرمن الله وفتح قریب.



# جنګي جنایتونه ( اکتوبر )

سید سعید

د ۲۰۲۰ز، کال د اکتوبر د میاشتې په ۲مه نېټه د پکتیکا ولایت د ارګون ولسوالۍ په پیر کوټي سیمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې یو ماشوم شهید شوی دی.

د اکتوبر په ۳مه د بدخشان ولایت د یفتل پاین ولسوالۍ په باغبالین کلي کې داخلي عسکرو یو ماشوم شهید کړی دی.

د اکتوبر په ۴مه د پروان ولایت د بګرام ولسوالۍ په چوبخش رباط کلي کې د یرغلګرو په ډرون برید کې یو ځوان شهید شوی دی.

د اکتوبر په ۵مه د لوګر ولایت مرکز اړوند بابوس سیمه کې حکومتي ځواکونو یو جومات بمبار کړی، چې له امله یې د مسجد یوه برخه نړېدلې، خو ځاني زیان نه دی پکې رامنځته شوی.

د اکتوبر په ۵مه د فراه ولایت د مرکز په دهیک سیمه کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې یو ماشوم او یو سړی شهیدان شوي دي.

د اکتوبر په ۶مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ حسینخیلو کلي کې حکومتي عسکرو د جاوید، محب الله او حاجي یار محمد په نومونو درې تنه ملکي هیوادوال له خپلو کورونو څخه ایستلي او بیا یې شهیدان کړي دي.

د اکتوبر په ۶مه د بدخشان ولایت د یاوان ولسوالۍ په انج کلي کې د حکومتي عسکرو د هاوان په ډزو کې دوې میرمنې او یو ماشوم ژوبل شوي او دوه کورونه زیانمن شوي دي.

د اکتوبر په ۷مه دبادغیس ولایت دقادس ولسوالۍ په لنګرسیمه کې د حکومتي الوتکو په بمبار کې یو مسجد شهید شوی دی.

د اکتوبر په ۸مه دسرپل ولایت د مرکز اړوند د بغاوي او د سیداباد ولسوالۍ په پنجشیر سیمو کې د حکومتي الوتکو په بمبار کې یو مسجد او څو کورونه ویجاړ شوي او اووه تنه ماشومان او زنانه ټپیان شو ي دي.

د اکتوبر په ۹مه د بغلان ولایت د ده صلاح ولسوالۍ په کاشغري او تل میر غازي سیمو کې حکومتي عسکرو پر ملکي وګړو حمله کړې، چې له امله یې دوه تنه ولسي- وګړي شهیدان شوي او یو تن ژوبل شوی دی.

اکتوبر په ۱۰مه د کندز ولایت د خان اباد ولسوالۍ د اکاخیلو په کلي کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې یوه میرمن شهید شوې او دوه تنه ژوبل شوي دي.

د اکتوبر په ۱۰مه د فاریاب ولایت د قیصار ولسوالۍ د ښش کپه په سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د اکتوبر په ۱۲مه د کندز ولایت مرکز په شورابي قشلاق سیمه کې د داخلي عسکرو دتوپچي په بریدنو کې یو مسجد او ګڼ کورونه زیانمن شوي او اووه تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي او څلور نفره نور ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۱۲مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ په سالارو سیمه کې داخلي

عسکرو یو ملکي وګړی(عبدالولي) چې بازار ته د سودا رانیولو لپاره روان و، شهید کړی دی.

د اکتوبر په ۱۲مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ د ډنډ شهاب الدین مربوط کلیم اغا او اکاخیلو کلیو کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یوه میرمن شهیده شوې او یوه بله ژوبله شوې ده.

د اکتوبر په ۱۲مه دهلمند ولایت د نادعلي ولسوالۍ د نري مانده په سیمه کې د حکومتي الوتکو په بمبا رکې نهه تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي او شپږ تنه ماشومان ژوبل شوي دي.

د اکتوبر په ۱۲مه د بغلان ولایت د پلخمري ولسوالۍ په عمر خیلو کلي کې د داخلي عسکرو د ثقیله وسلو په پیرونو کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي او دوه تنه ټپیان شو ي دي.

د اکتوبر په ۱۳مه د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ په کنصف کلي باندې حکومتي عسکرو چاپه وهلې، د کورونو دروازې یې ماتې کړې او د اکبرخان، عمراجان او عبدالله په نومونو درې تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي او خلکو ته یې مالي تاوانونه رسولي دي.

د اکتوبر په ۱۳مه د کندز ولایت د دښت ارچي ولسوالۍ په عیدګاه او لمړو سیمو کې حکومتي الوتکو بمبار کړی، په دغه بمبار کې درې ښځې او یو ځوان شهیدان شوي او ګڼ کورونه زیانمن شوي دي.

د اکتوبر په ۱۴مه د فاریاب ولایت د ګرزیوان ولسوالۍ په افغان تپه سیمه کې اربکیانو یو پلار او زوی شهیدان کړي دي.

د اکتوبر په ۱۵مه د خوست ولایت مرکز اړوند د لکڼو کوړیانو کلي کې د کمپاین عسکرو د شوکت الله په نوم یو ملکي وګړی چې په بازار کې یې دوکان درلود، شهید کړی دی.

د اکتوبر په ۱۶مه د فراه د مرکز په کوره ګز سیمه کې حکومتي عسکرو د تازه ازاد شوي بندي( محمد قاسم) پر کور چاپه وهلې، عسکرو نوموړی بندي، یوه کوچنۍ لور یې او درې تنه کلیوال شهیدان کړي او دوه تنه نور ملکي وګړي یې ټپیان کړي دي، همداراز عسکرو په دې چاپه کې یو بل تازه خوشي شوی اسیر( محمد اسمعیل) د لسو تنو نورو کلیوالو سره یو ځای بندیان کړي دي.

د اکتوبر په ۱۶مه د فاریاب ولایت دقیصار ولسوالۍ په ارضلیک سیمه کې د حکومتي عسکرو د توپچي په ډزو کې پنځه تنه ملکي وګړي چې ښځې او ماشومان هم پکې شامل دي ټپیان شوي دي.

داکتوبر په ۱۶مه د ننګرهار ولایت د خوګیاڼو ولسوالۍ د زاوېې په سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ماشوم شهید شوی دی.

د اکتوبر په ۱۶مه د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ په سابات سیمه کې اربکیانو د مولوی عبدالله په نوم یو دیني عالم او امام شهید کړی دی.

د اکتوبر په ۱۷مه د تخار ولایت د نمک اب ولسوالۍ په ده بالا کلي کې د حکومت په بمبار کې یو کور او مسجد په نښه شوي، په کور کې یو نارینه، یوه میرمن او درې ماشومان شهیدان شوي او جومات زیانمن شوی، خو چاه ته پکې ځاني زیان نه دی رسیدلی.

د اکتوبر په ۱۸مه د بغلان ولایت د مرکزي بغلان ولسوالۍ د شهر کهنه بازار ته څېرمه د داخلي عسکرو په ډزو کې یوه میرمن او یو نارینه شهیدان شو ي دي.

د اکتوبر په ۱۸مه د بلخ ولایت د زارع ولسوالۍ په دهن دره علیا سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په برید کې یو ملکي وګړی چې خپل پټي کې یې او به لګولې شهید شوی دی.

د اکتوبر په ۱۸مه د بغلان ولایت د دوشي ولسوالۍ په کیله ګي سیمه کې حکومتي ځواکونو له زندان څخه د راخوشي شوي بندي( روح الله) پر کور چاپه وهلې،عسکرو د چاپې په مهال نوموړي بندي، یو زوی او مېلمه یې شهیدان کړي دي.

د اکتوبر په ۱۸مه دهلمند د مرکزلښکرګاه د دریمې حوزې دمنډویانو په سیمه کې د حکومتي ځواکونو په بمبار کې یو سپین ږیرى شهید شوى دى.

د اکتوبر په ۱۸مه د بادغیس ولایت د بالامرغاب ولسوالۍ د بازار په سیمه کې د حکومتي عسکرو د هاوان په برید کې یو سړى شهید شوى، میرمن یې ژوبله شوې او کور یې تخریب شوى دى.

د اکتوبر په ۱۸مه د ننګرهار د مرکز اړونده درونټه سیمه کې حکومتي عسکرو یو دیني عالم( مولوي علي خان مخلص) شهید کړى دى.

د اکتوبر په ۱۹مه د ننګرهار ولایت د شېرزادو ولسوالۍ په ګندمک سیمه کې داخلي عسکرو یو ملکي وګړى( ښایسته خان ولد عین الله) چې د سیمه ییز ښوونځي ملازم و، شهید کړى دى.

د اکتوبر په ۱۹مه دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د بند برق په سیمه کې داخلي عسکرو د استوګنې پر سیمه د ډي سي توپ پیرونه کړي چې له کبله یې ځلور تنه ماشومان او ښځې شهیدان ا وټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۲۰مه د دایکندي ولایت د ګیزاب ولسوالۍ د کاغ سیمه کي د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یو ماشوم شهید شوى او یو بل ژوبل شوى دى.

د اکتوبر په ۲۰مه دسرپل ولایت د سوزمه قلعه ولسوالۍ د ګودار په سیمه کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې پنځه ماشومان شهیدان او ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۲۰مه د بلخ ولایت د نهرشاهي ولسوالۍ په شهرک ترکمني سیمه کې د حکومتي ځواکونو د هاوان په ډزو کې دوې نجونې شهیدانې شوې دي.

د اکتوبر په ۲۰مه دهلمند ولایت د ګرشک ولسوالۍ د مهاجرباز په سیمه کې د هرات- کندهار پر عمومي لاره داخلي عسکرو له خپلې پوستې ځخه پر مسافرو ډزې کړې،چې له امله یې ځلور تنه مسافر شهیدان او زخمیان شو ي دي.

داکتوبر په ۲۱مه د بلخ ولایت د دولت اباد ولسوالۍ د جوى عرب په سیمه کې حکومتي الوتکو یو مسجد بمبار کړى،په دغه بمبار کې مسجد شریف زیانمن شوى او یو ماشوم پکې ژوبل شوى دى.

داکتوبر په ۲۱مه د تخار ولایت د مرکز تالقان په هزاره قرلق سیمه کې حکومتي الوتکو پر یو مسجد بمبار کړى، په دغه بمبار کې دوولس تنه زده کوونکي شهیدان شوي او د ملا امام په ګډون اتلس تنه نور ټپیان شوي دي. په یاد شوي بمبار کې دتخار والي هم د ملکیانو ذکر شوې مرګ ژوبله تائید کړه، که څه هم د ارګ لومړي مرستیال( صالح) په دغه پیښه کې د ولسي- وګړو تلفات رد کړل او زیاته یې کړه کوم کس چې اول دې پیښه کې د ملکي تلفاتو خبر ورکړى، هغه کس به مجازات کړي!!

د اکتوبر په ۲۲مه د میدان وردګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ په هفت اسیا سیمه کې داخلي عسکرو د ملکي خلکو د سپرلۍ په موټر ډزې کړې چې له امله یې یو سړى شهید شوى او ۱۳ کلن زوى یې ټپي شوى دى.

د اکتوبر په ۲۲مه د تخار ولایت د خواجه غار ولسوالۍ په قروق سیمه کې حکومتي ځواکونو پر یو کور بمبار کړى چې شپږ تنه پکې ژوبل شوي دي.

د اکتوبر په ۲۳مه د خوست ولایت مرکز کونډیو سیمه کې د کمپاین عسکرو یو دوکاندار( محمداکبر) له خپله دوکانه وړى او د منګسو سیمه کې یې شهید کړى دى.

داکتوبر په ۲۵مه د غزني ولایت د واغظ ولسوالۍ په شیخانو کلي باندې داخلي عسکرو هاوانونه ویشتلي، چې له امله یې یو ملکي وګړى شهید او یو بل تن ټپي شوى دى.

د اکتوبر په ۲۵مه د میدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ د چینو کلي ته څېرمه د یرغلګرو په ډرون برید کې دیو ملکي وګړي( جیلاني خان) درې ماشومان زامن شهیدان شوي دي.

داکتوبر په ۲۵مه د بلخ ولایت د چهاربولک ولسوالۍ په تیمورک کلي کې دحکومتي الوتکو په بمبار کې دوه کورونه زیانمن شوي او د ښځو او ماشومانو په ګډون پنځه تنه پکې ټپیان شوي دي.

داکتوبر په ۲۵مه د بلخ ولایت زارع ولسوالۍ د بلند دریغ کلي کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې درې ماشومان ژوبل شوي او خلکو ته مالي تاوان هم ا وښتی دی.

داکتوبر په ۲۵مه د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ په کټه سنګ کلي کې حکومتي عسکرو یو ملکي وګړی (معلم الوزی) شهید کړی او خلکو ته یې مالي زیانونه اړولي دي.

د اکتوبر په ۲۶مه د لوګر ولایت د ازري ولسوالۍ په کوزي چوترې سیمه کې داخلی عسکرو یو ملکي وګړی شهید کړی دی.

داکتوبر په ۲۷مه د بلخ ولایت د شولګره ولسوالۍ په بودنه قلاه سیمه کې د داخلي عسکرو د توپچي په ډزو کې شپږ تنه ملکي وګړي شهیدان شوي او یو تن ژوبل شوی دی.

داکتوبر په ۲۷مه د بلخ ولایت د دولت اباد ولسوالۍ مرکز ته څېرمه د داخلي عسکرو د ثقیله وسلو په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی او دوه تنه ژول شوي دي.

د اکتوبر په ۲۸مه د بدخشان ولایت د راغستان ولسوالۍ په زرنداب سیمه کې داخلي عسکرو داستوګنې پر سیمو ډې سي توپونه اوروولي چې له کبله یې پنځه تنه کروندګر ژوبل شوي دي.

د اکتوبر په ۲۸مه د کندزولایت د خان اباد ولسوالي د قومندان محراب په کلي کې د حکومت په یو هوايي برید کې یو مسجد شهید شوی او ځینې کورونه ویجاړ شوي دي.

د اکتوبر په ۲۹مه د کندهار ولایت دارغنداب ولسوالۍ د جوی لاهور په سیمه کې د داخلي عسکرو د هاوان په ډزو کې یوه ښځه او څلور کوچنیان ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۳۰مه د میدان ورګ ولایت د جلریز ولسوالۍ په زرلنګ سیمه کې د حکومتي عسکرو د ډي سي توپ په فیرونو کې یو منځنی ښوونځی لګېدلی او سوځېدلی دی.

د اکتوبر په ۳۰مه دکندهار ولایت د ژړۍ ولسوالۍ د سنګ حصار په سیمه کې د حکومتي الوتکو په برید کې اووه تنه ملکي وګړي ژوبل شوي او یو تن شهید شوی دی.

د اکتوبر په ۳۱مه د فارياب ولایت د قیصار ولسوالۍ د کوهي او قرقول په سیمو کې د داخلي عسکرو د ثقیله وسلو په ډزو کې درې تنه ماشومان ژوبل شوي او یوه مېرمن شهیده شوې ده.

د اکتوبر په ۳۱مه دهلمند ولایت دمرکزلښکرګاه د دریمې حوزې دمنډويانو په سیمه کې د یرغلګرو په ډرون برید کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي او درې نفره ټپیان شوي دي.

د اکتوبر په ۳۱مه د ارزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ مرکز بازار باندې یرغلګرو او حکومتي ځوواکونو بمبار کړی، له سیمې څخه د ورکړل شوو معلوماتو په اساس په دغه بمبا رکې د همدې بازار ګن دوکانو،هوټلونه اومارکیټونه ویجاړ او زیانمن شوي چې په سبب یې خلکو ته پراخ مالي زیانونه اوښتي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډيو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،تول افغان ویبپاڼه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا .....]

# ځوریدلی ولس

**شاعر: سمیع الدین افغاني**

ورځ تر بله جنازې په اوږو کېږي
څه تنکي، چنارځوانان ترخاورو کېږي

بل څوک نه دي دا د لوی افغان بچي دي
د پردو په لمسون هره ورځ قتلیږي

هره خوا لکه صدام په خوله تکبیر دی
څوک نظام څوک ترهګر په نوم یادیږي

ناست قطر کې دي وطن ته سوله غواړي!
په وطن کې شپه او ورځ ولس ځوریږي

دا دښمن دی دا دوکه ده بل څه نده
اوس پدې حقیقت هر افغان پوهیږي

دا چې چا مونږ په قومونو یو بیل کړي
د هغو په لمسون ګران وطن ورانیږي

د خلاصون لاره یواځې همغږي ده
افغاني په پوهه هر مشکل حلیږي

# شهیدیم

**محمد ناصح**

ټوک، ټوک یمه د رب له دین نه ځار، یمه شهید یم
وجود باندې زخمي، پرهار پرهار، یمه شهید یم

قربانه مې ځواني کړه د الله له ښکلي دین نه
کاروان د شهداو کې اوس شمار، یمه شهید یم

ما کوچ کړی دی تللی یم د یار تر کلي پورې
عجیبه زندګي ده ښهٔ سینګار، یمه شهید یم

ژړیږه مه مورجانې ته زما په جدایۍ کې
زهٔ تللی د أبد ژوندون په لار، یمه شهید یم

دردونو نه اخیست مې دی خوند د پاکې مینې
ساده نه یم د رب په عشق خمار، یمه شهید یم

اخیستی رانه روح دی رب په ناز په مینه، مینه
نو خود به هم د حورو زه دلدار، یمه شهید یم

(ناصح) به لاروی شم ستا د لارې ای جانانه
قبول مې کړه خپل ځانته انتظار یمه شهید یم

# د تورو شپو مزلونو کې

## ډېوه درسره واخله

الفت جان

د تورو شپو مزلونو کې ډېوه درسره واخله
د ژوند په هره لاره کې نيزه درسره واخله
ای پام چې دخپل رب په لوري ځې خالي ور نشې
ډالۍ کې د خپل تن وينه تحفه درسره واخله
جانانه د جانان خواته چې ځې دا خبر واوره
په زړه کې خاماخا مينه خوږه درسره واخله
ځار داسي نه دښمن درته يو لوی پلان وي جوړ کړی
لاليه ګام پر ګام ټوپک چاتټه درسره واخله
هو شته پکښې تياري د وحشتو مسلمه وروره
لحد ته د اعمالو سرمايه درسره واخله
الفته که بريا غواړي دحشر په ميدان کې
له ځان سره د رب مينه پخه درسره واخله

## د اقتدار هوس

انس حقاني

شرف کړي هېر له انسان د خواهش بنګ ووهي
ړوند شي او کوڼ شي هغه، کوم زړه چې زنګ ووهي
منم چې درد به لري خو له حکمته ډک وي
ويده احساس ويښوي، چې ځنځير شرنګ ووهي
چې يې په زړه کې نه وي، د محبت ښکلاوې
حسد يې نه پټيږي، که هرڅو رنګ ووهي
ځار د غيرت له ګزار، وار يې تاريخ جوړوي
عبرت شي هر بې ننګ ته، کوم سر چې ننګ ووهي
د عقل هوش يې لاړ شي، د جنون جوش پرې کيني
د اقتدار هوس چې، په هر چا چنګ ووهي
عرش ورته وخوځيږي، غضب څپې ووهي
چې د غرور په نظر ځوک، خوار ملنګ ووهي
راشئ په دې عصر کې عجب مين وګورئ
د مينې اور سره سر، لکه پتنګ ووهي
د تخيل اسمان کې، د هيلو ستوري شماري
انس خاموشه غوندې تيرې ته ځنګ ووهي

شعر:

که قوت د انقلاب د چيغو نه وی
مړه نبضونه د وطن به خوځول چا
که د وينو توپان نه وای پاڅولي
دا په خپل غلاف کې مړه به پاڅول چا
چا به زړه نيوه د شوق د نمرود اور ته
دا زاړه بت پرستان به شرمول چا
څوک ورتهٔ تورو ديوانو ته په غيږه
د پيرېو يرغمل به خلاصول چا
چا به غر د بغاوت کړ په دوزخ کې
زندانونه د عذاب به نړول چا
چا به لاره خلاصوله د لمر کور ته
له تلپاتې تررېميو به ايستل چا
که د سولې تنده نه وای په انسان کې
تر ايرو لاندې اورونه به لړل چا
دا غمجنه شپه به چا سبا کوله
ميليونونه سحرونه به ژغورل چا
چا به خاورو ته ښښل د ژوندون زړي
په بيديا بارانونه اورول چا
د پښتون د غلام ذهن په تياره به
څراغونه د رڼاوو بلول چا
د تودې مينې د اوښکو په باران به
د وطن تږي ځوځان اوبه کول چا
درواغجن وطن پلورونکي مشران به
نا خبره ولسونو ته ښودل چا
داستانونه د وطن د اتلانو
نوي نسل د سبا ته رسول چا
د کنګل ځپلو غرونو په رګو کې
ويده شوي ارمانونه ويښول چا
چا به ستايل د توپان تري تم شوي
دا نوم ورکي سربازان به يادول چا
او په ژبه د پېريو د ګونګيانو
آيتونه د پاڅون جاري کول چا
د ځوانۍ د هوسو تاوده کلونه
هنګامې د آزادۍ ته وقفول چا









په کندهار ولایت کې د فتحو دروانې لړۍ د بریدونو او غنیمتونو ځو بېلګې

# MORCHAL

*Islamic, Jihady, Educational and Cultural Monthly Journal*



